پېه اسلام کي د انسان حقونه

ژباړن : أبوضياء زاهدالله توحيدي مدني

# حقوق الإنسان في الإسلام

(باللغة البشتو)

تأليف : لمعالي الشيخ صالح بن عبدالعزيز بن محمد آل الشيخ

وزير الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد

مترجم : أبوضياء زاهدالله توحيدي مدني

الداعية بمكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالجبيل

الطبعة الأولى : ١٤٣٧هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ژباړن سريزه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأولين والأخرين نبينا محمد ﷺ وعلى آله وصحبه أجمعين .

* الله تعالى په انسانانو باندې ډيره لويه مهرباني کړې چه دوې ته يې سپيڅلي اسلامي دين راليږلى دى ، او د دې په زده کړه ، ښودنه اوعمل کولوکې د هرانسان لپاره د دنيا او آخرت مصلحت اوفايده ينبې ده ، اوپه دې اسلامي مقدس دين کې الله تعالى ټولوانسانانوته حقوق ورکړې دي ، چه دا حقوق په هغو وثائقواو عهدنامو کې نشته کومې چه د انسانانوپه لاس ليکل شوي او تياري شوي دي ، الله تعالى په خپل مبارک کتاب کې او رسول الله ﷺ په صحيح أحاديثو کې د ټولوانسانانوحقوق ثابت کړي دي ، برابره خبري ده که دوي مسلمانان وي اوکه مسلمانان نه وي ، الله تعالى فرمايلي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى

وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ [١] ((ای مؤمنانو : اوسئ تاسي محکم ولاړ(په حق باندي) له پاره د الله تعالی ، شاهدان په عدل (انصاف)سره ، او باعث دي نه کړي تاسو دشمني د قوم په دي چه عدل به ونه کړي تاسو، عدل وکړئ ، هم دا(عدل) ډيرنږدي دی پرهيز ګاري ته ، او ويرېږئ تاسي د الله تعالی نه ، يقيناالله تعالی خبردار دی په هغواعمالو چه تاسي يي کوي)) .

* اسلامي شريعت چه انسان ته کوم حقوق ورکړی دی نود دي حقوقو اساسي مبادئ (بنيادونه) نبي کريم ﷺ هغه خطبه کې ذکرکړي دي کله چه هغه د حج په موسم کې د قرباني (لوي اختر) په ورځ ټولومسلمانانوته پيش کړي وه ، دغه يوه جامع اوشامله خطبه وه چه په هغي کې د هرانسان لپاره حقوق ددلائلو په رڼاکې ذکردي ، نو داسلامي شريعت په رڼاکې مونږ دانسان ځني حقوق په لاندي ډول ذکرکوو:

---

(١) [سورة المائدة /٨].

* په عامه توګه حقوق : د ژوند حق ، د عقيدي حق ، بل ته د ښودلو حق ، د خپل مصير معلومولو حق ، د ټولو انسانانو حقوق ، کورنی حقوق :( د اولاد حقوق، ماشوم ته د خايسته نوم کيښودلو حق، ماشوم ته په روزنځاي کې د داخلولو اوروزني حق ، داولاد په مابين کې د انصاف او عدل حق ، د ښځو حقوق ، د موراو پلارحقوق او د صلي رحمي حق ) .

* اجتماعي حقوق : د هستوګني اوګاونډي حقوق ، د معيوبينو حقوق ، د حجرصحي حق ( په کوم هيواد او ښار کې چه مرض وي خلکو ته د هغي ځخه د تللو اوهغي ته د ورتللو اجازت نه ورکول ) .

* اقتصادي حقوق : د کار کولو حق ، د اخستلو او خرڅولو حق ، د ملکيت حق ، د شفعي حق ، د سوال کوونکې حق ، او د ټولني لپاره د هغه شخص د مقابلي حق چه منصب اومسؤليت د خپلي شخصي مصالحو او فايدو لپاره استعمالوي .

* د ښځي حقوق : د اسلام څخه مخکې جاهلي ټولني ښځي ته پدي نظر کتل چه دا به يوائي د سړي خدمت کوي او سړی به يي د خپلي فايدي لپاره استعمالوي ، د جاهلي دودونو او رواجنو په نتيجه کې به ښځه د نورو شيانو په شان خرڅيدله او اخستل کيدله ، کله چه اسلام راغی نو د جاهلي زماني د ظلم اوستم ټول تأسيسيات (بنسټونو) ته يي د پاي نقطه کيښودله ،او ښځي يي د سړو په شان وګرځولي، ( دوي يي په انساني کرامت او عزت ، کې د سړو سره برابري کړي ،او بل يې دا ثابته کړه چه سړ ی او ښځه په پيدايش او طبيعت کې يوشان دي ) ، اسلام د ښځي منزله او مرتبه اوچته کړي ده او ديته يې عزت ورکړی دی ،کله يې دا مورګرځولي ده ، کله يې خورګرځولي ده ، کله يې د خپل خاوند لپاره ښځه ګرځولي ده ، اوکله يې لورګرځولي ده ، او د دي عزت او کرامت په ډيرو آيتونو او أحاديثوکې ذکر دی ، او د دي د طبيعت موافق يې په دي باندي ځني عبادات فرض او ځني واجب اوځني مستحب کرځولي دي .

* غربيان د انسان لپاره ځني حقوق د خپلو وثائقو اوعهدنامو په ليکلو ثابتوي اوډيرهغه حقوق چه انسان ته

شريعت ورته ورکړی لکه څرنګه چه مونږ مخکې څني ذکر کړوهغه ترينه منفي کوي،اوډيرغربي مجازه اوغرب ته مايله خلک اوګمراه داعيان هم هغه حقوق ثابتوي چه کوم غربي ټولني ثابت کړي دي اواسلامي دين دهغې څخه پاک اوبې زاره دی ،کله که دا غربي داعيان دغه ګمراه افکارو ته دعوت او بلنه ورکوي نو حق پرستودعاتو اورباني علماوو ته پکاردي چه هغوي د دغه ناوړه افکاروڅخه په هره مکنه وسيله منع کړي ، غربيان د خپلو عهدنامو (لوظنامو) په نتيجه کې چه د دوهم نړي وال جنګ څخه روسته يې د انسان د حقوقو په هکله ليکلي دا عقيده ساتي چه سړي اوښځې په ټولوحقوق کې برابر دي اود انسان لپاره يې په ډيرو مجالاتو کې حريت او ازادي ثابته کړي ، بيا د هغوي په ټولنه کې په عملي ميدان کې دا ټول شيان په صحيح معنی تطبيق او عملي ندي ، دوي چه کومي ازادياني ورکړي دي د هغو تفصيل دا دی : انفرادي ازادي ، سياسي ازادي ، مالي ازادي ، د مساوات ازادي ، د قضاء او فيصلي ازادي ، د حقوقو او په هر ملک کې د هويت اخستلو ازادي ، البته هغه څوک چه په قرآن کريم او احاديثو عبوراو مرور لري نو

هغوي پدي پوهيږي چه د لومړي ځل لپاره انسان ته حقوق اسلام سپيڅلي او مقدس دين ورکړی دي ليکن د دغو ټولو حقوقو لپاره يې خپل حدود ټاکلي دي چه د هغوڅخه به تجاوزنه کوي اوهرچه غربيان دي په پوره توګه د هغوڅخه تجاوزکوي ، نو په دي اساس مونږ به دا ووايو چه په اسلامي دين کې ازادي او مساوات دواړه شته خودا به په مطلقه توګه نه دي چه هر څوک به د خپل طبيعت اومزاج موافق کارونه کوي بلکې د دي لپاره به قرآن کريم اود رسول الله ﷺ احاديث معيار وي نه د خلکوغوښتني .

* ښاغلی محترم معالي الشيخ : صالح بن عبدالعزيز بن محمد آل الشيخ ، حفظه الله تعالى ، چه دا په سعودي عربستان کې د (الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد ) وزيردی اوده په يوه موضوع باندي بيان کړي وو چه د هغي عنوان وو : (حقوق الإنسان ) (د انسان حقونه) ، بيا دا موضوع تسجيل شوي وه اود کيسټ د تفريغ کولوڅخه روسته يې ورته د يووړوکي کتاب شکل ورکړی دی ، د دي موضوع د اهميت په اساس او د موجوده زماني د ټولنو د

ضرورت لـه امله پـه سعودي عربـستان کـې دجبيـل نـوم ښـار کې داوقافو د وزارت تـابع د عـوتي مرکـز(دعـوت سنټر) ټول داعيـان د دي کتـاب پـه ژبـاړه مکلف کـړو نـودا چـه پـه دغـه ديني مرکزکې د پـښتو شعبي او څانګي مـسؤل زه اوم نـو لـه دي امله د دي کتاب د ژباړي د سعادت خـوش نـصيبي ماتـه حاصله شوه، نود الله تعالی پـه مـدد پـه مختـصر وخت کـې د دي ژباړه پاي ته ورسيده ، نوداﷲ تعـالی څـه سوال کـوم چـه پدي کتـاب سره د پښتو ټولني ته فـايده ورسوي .

آمين يارب العالمين .

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه أجمعين .

أبوضياء زاهداﷲ توحيدي مدني
د جبيل د دعوتی مرکز د پښتو څانګي مسؤل
ص – ب : ۱۵۸۰، الجبيل : ۳۱۹۵۱
سعودي عربستان
00966/3/3625500 EXT-1020
موبائل : 0508045497

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مؤلف سريزه

الحمد لله رب العالمين الذي قال في محكم كتابه ، وهو أحكم الحاكمين : ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴾ [1] ((او يقينا عزت ورکړی دی مونږ اولاد د آدم عليه السلام ته ، او سواره کړي دي مونږ دوي لره په وچه او په درياب کې، او روزي ورکړې ده مونږ دوي ته د پاک رزقونو نه ، اوغوره کړي دي مونږ دوي لره په ډيرود هغه چانه چه مونږ پيدا کړي دي ، ډيرغوره والی)) .

* ثناء اوصفت دی هغه ذات لره چه پوهيږي په هغه څه چه پيداکړی يې دي ، اوهغه پټ رازونه پيژني اوخبردار دی ، زه د هغه په پوره توګه ثناء او صفت وايم د هغه د حکم او نهي ، اود هغه د شريعت او لاربښودني ، الله هغه ذات دی چه خلکوته يی لاربښودنه کړې ده ، اودوي ته يې په هغه څه حکم

[1] [سورة الإسراء / ٧٠].

کړی دی چه دوي په دنيا اوآخرت کی پوره کوي او فايده ورته ورکوي ، د الله تعالی لپاره زيات ثناء او صفت دی لکه څرنګه چه يې په مونږ زياته مهرباني کړی ده ، او ګواهي کوم چه نشته لائق د بندګي مګر يوالله تعالی دی چه شريک نه لري ، او محمد ﷺ د الله تعالی بنده او پيغمبردی ، الله تعالی دي په هغه اود هغه په خاندان اوملګرو باندي رحمت نازل کړي ، او په هغوي دي ډيرسلام وي .

أمابعد :

## د اسلامي دين اهميت :

* د مسلمان سړی لپاره مناسب دا ده چه د خپل دين د زده کړي لپاره ډيرحرص وکړی په کوم چه نه پوهيږي ، او د خپل علم باقي پاتي کيدلو لپاره کوشش وکړی کوم چه د وخت په تيريدلو اوياد ډيرمصروفيت له امله ترينه هيرکړی شوی دی ، پدي کې هيڅ شک نشته چه اسلامي شريعت مبارک او کامل دی ، خلکو ته د دي په شان کامل شريعت بل ندی راغلی ، الله تعالی د هر رسول لپاره شريعت او څرګندہ لار ګرځولی ده ، اود رسول الله ﷺ شريعت يی تر

قیامت راتللو پوري په ټولو شریعتونو کې کامل او پوره ګرځولی دی ، اودا شریعت د هرځاي او زماني لپاره صالح او مناسب دی ، اګرکه ځایونه او حالات مختلف شي ، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمايلي : ﴿ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا ﴾ [۱] (( نن پوره کړوما تاسولره دین ستاسو، او پوره مي کړو په تاسوباندي نعمت خپل،اوغوره کړی می دی تاسو لره اسلام دین )) .

* په اسلامي شریعت کې د هرمشکل حل اود هر چا د حق ساتنه شته ، اود هرقسم انسان لپاره پدي کی منزله او مرتبه شته او بیا په خصوصي توګه د مسلمان لپاره په دي کې منزله او عزت شته ، ځکه مسلمان د توحید د پیغام مسؤلیت لري ، نود ټولو لپاره دا ضروري ده چه د اسلامي شریعت محاسن (ښکلاوي) وپیژني ، او د دي شریعت حکمونه ، مقصدونه او پټ رازونه وپیژني، اود کومو حقوقو د ساتني حکم چه یی کړی دی د هغو ساتنه وکړي ، او خلکو ته د دي دعوت اوبلنه وکړي ، اود ګمراه داعیانو په

---

[۱] [سورة المائدة/۳].

مقابل کې چپ پاتي نشي کوم چه خلک په مختلفو نومونو او شعاراتو د حق څخه منع کوي ، مونږ د الله تعالی شکر اداء کوو چه دي شریعت ته یې مونږه راګرځولي یو، او مونږ ته یي پوهه او اداب راکړی دی لکه څرنګه چه یې رسول الله ﷺ ته ورکړی وو، او کوم تقریرونه(درسونه) چه په دي مبارک جومات کې وشو چه د هغو ټولو عنوان وو: (الحقوق الشرعية) (شرعي حقونه) .

## د دوه مهمو حقوقو پیژندل :

* د مسلمان او ایماندار لپاره دا پوهه او پیژندنه لازمي ده چه الله تعالی آسمانونه او ځمکې د دوه حقونو په اساس قائم کړي دي : د الله تعالی د حق اداء کولو او بیا د بندګانود حقونود اداء کولو له امله ، ټول پیغمبران د اول نه تراخره پوري او ټول نازل شوي کتابونه د دي دواړو حقونو د څرګندوالي په اساس راغلي دي ، هغه دا چه بندګي یواځي د الله تعالی حق دی د هغه څخه علاوه به د بل چا عبادت نه کیږي ، اود الله تعالی نه علاوه د نورو مختلفو باطلو معبودانو او شریکانو د عبادت څخه انکار

کول ، او د هغه د رسول تابعداري کول چه د هغه په هکله يې په هره زمانه اوځاي کې د تابعداري حکم کړی دی ، او بيا خلکو ته د هغوي حقونه واپس کول ، د دي دوه بنيادي حقونو اداء کولو له امله الله تعالی کتابونه نازل کړی دي او پيغمبران يې راليږلي دي ، الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي : ﴿ قَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ﴾ (۱) (( يقينا راليږلي دي مونږ تاسو ته رسولان خپل په ښکاره حکمونو سره ، او نازل کړی دی مونږ د دوي د ملګرتيا لپاره کتابونه او د تللو ثيز ، د پاره د دي چه ودريږي خلک په انصاف سره )) .

* اوهمداراز الله تعالی فرمايلي : ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولاً أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾ (۲) (( او يقينا ليږلي دی مونږ په هر امت کې رسول ( پدي خبره ) چه بندګي خاص کړي د الله تعالی او ځان وساتي د (بندګي) د غير الله نه )) .

---

(۱) [سورة الحديد/۲۵] .

(۲) [سورة النحل/۳۶] .

* نو پدي اساس رسول الله ﷺ معاذ بن جبل رضي الله عنه ته وويل : (( يَا مُعَاذُ ، هَلْ تَدْرِى حَقَّ اللَّه عَلَى عِبَادِه ، وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّه ، قُلْتُ : اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ ، قَالَ : (( فَإِنَّ حَقَّ اللَّه عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلاَ يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ، وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّه أَنْ لاَ يُعَذِّبَ مَنْ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا)) ، فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّه ، أَفَلاَ أُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ قَالَ : ((لاَ تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا)) (( ای معاذه ! آيا ته پوهيږي چه د الله تعالى حق په بندګانو باندي څه دی ؟، اود بندګانو په الله تعالى باندي حق څه دی ؟، نو هغه وويل : الله تعالى او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وويل : (( يقيناد الله تعالى حق په بندګانو باندي دا دی چه د هغه عبادت وکړي اود هغه سره په عبادت کې هيڅوک شريک ونه ګرځوي ، اود بندګانو په الله تعالى باندي حق دا دی چه هغه چا ته به عذاب نه ورکوي چه د هغه سره يې هيڅ شی ندی شريک کړی ، نوما وويل : د الله تعالى رسوله !، پدي باندي خلکوته خوشخبري نه ورکوم، نو هغه وويل : خوشخبري مه ورکوه نو بيابه دوي په دي اکتفاء وکړي ))[1] .

---

(١) [روايت يې صحيح بخاری –په (ج ١٠ / ص ٢٩۴ ، کې کړی دی].

* نو په دې سره دا واضحه شوه هغه حقوق چه ټولو شريعتونو پرې راټګ کړی او بیا خاصکرچه اسلامي شريعت یې یادونه کړې هغه : د الله تعالی حق اداء کول دي او د خلکو د حقوقو اداء کول دي ، نو دا تا ته د الله تعالی په کتاب کې او د رسول الله ﷺ د سیرت او په سنتو کې د پوره سوچ او فکر کولو څخه روسته د دې کلمې وضاحت وشو ، (چه هغه د انسان حقوق دي) .

* د شرعي حقوقو په متعلق تاسو ته د محترمو مشایخو په ډیرو تقریرونو (درسونو) کې د هغو تفصیل او وضاحت شو، الله تعالی دې هغوی ته د خیر بدله ورکړي .

## د انسان حقوق او دیته د تاریخ په رڼا کې لنډه کتنه :

* بعضې د هغو حقوقو څخه چه په موجوده زمانه کې یې ډیر ذکر او یادونه کیږي او هغو ته یې په (حقوق الإنسان) (د انسان په حقونو) سره نوم ورکړی دی ، او پدې کلمې سره د نن ورځ د محاضراتو (بیانونو) عنوان هم دی ، پدې عنوان سره ډیرو اشخاصو لیکنې کړې دي ، چه بعضې د دینه

شرعي بحثونه دي اوځني عقیدوي دي او ځني د عباداتو او ځني د قضاء او فیصلو او ځني د سیاسي او مالي مختلفو حقوقو سره تعلق لري .

* اود بل اړخ نه پدي حقوقو پوري هغه څه هم متصل او پیاوسته دي چه کوم لوي هیوادونه او یا ملګري ملتونه یې خپروي چه هغوي ورته نوم په : (مواثیق حقوق الإنسان) ( د انسان د حقوقو په عهدنامو ) سره ورکړی ، لکه څرنګه چه تاسو پوهیږي چه د دي کلمي راپیدا کولو لپاره قیصه ده ، دا لفظ د (حقوق الإنسان) نوی راپیدا شوی دی په شریعت کې د دي لفظ ذکرنشته ، اود دي ذکرپه قرآن کریم او حدیثو کې هم نشته ، علماوو او د اسلام امامانو د دي کلمي د ثبوت لپاره کوم دلیل هم ندی پیش کړی ، لیکن د انسان حق په قرآن کریم او حدیثو کې موجود دی ، چه ددي وضاحت به ددي کتاب په راتلونکې حصه کې وشي .

* کله چه دوهم نړي وال جنګ وشو او په دي کې د مختلف ایتلاف کوونکو هیوادونود امریکا په مشري او قیادت کامیابي ترلاس کړه ، اود ملګرو ملتونو سازمان

نوی عالمي نظام جوړکړو، نود (النظام العالمي الجديـــد)( نوی نړي وال نظام )، اصطلاح د خليج د جنګ څخه روسته نده راپيدا شوی ، بلکي د دي اصطلاح بنستهونه (بنيادونه) د دوهم نړي وال جنګ څخه روسته ښکاره شوی وو، د دي لپاره چه لوي او قوي ملکونه ( هيوادونه ) يي په هغه وخت کې استعمال کړی چه کله دوي په نړی کې په نورو ضعيفه ملکونو(هيوادونو)اوامتونو، ښارونواود هغوي په ثقافتونو باندي د يو نوي شي فرض کول غواړي .

* د دوهم نړی وال جنګ څخه روسته لوي ملکونو او قوتونو د نوي عالمي نظام ايجاد وکړو چه دوي په ټولو ملکونو واکداراو قابض شي ، دغه قبضه او واکداري به کله ثقافي وي او کله به دغه د قوت په نتيجه کې د عملي اقدام له نظره د ازادي سره تړاو لري ، اوکله به دغه قوت په نورو ملکونو (هيوادونو) کې چه دوي پکې لاس وهنه غواړي د هغي لپاره استعمالوي ، نود دي عالمي نوي تنظيم اعلان اوخبرتيا په (۱۹۴۸)ميلادي کال کې وشوه، چه دغه عالمي اوازورته په (حقوق الإنسان) سره نوم کيښود ، او د ملګرو ملتونو لخوا يوه وثيقه (معاهده) وليکل شوه چه

هغه په ديرشو(۳۰) مادومشتمله وه ، بياپه دغه معاهده كې ځني تعديلات (تغيرات) په زيادت سره وشو، نو اوس ورته نوم په :(حقوق الإنسان)(د انسان په حقونوسره) سره نوم وركوي .

## د ملګرو ملتونو دحقوقو دوه جهته :

* دكوموحقوقو چه مګري ملتونه او غربي هيوادونه اوازكوي هغه په حقيقت كې دوه جهتونوته راجع كيږي :

۱) د حريت (ازادي) جهت

۲) دخلكوپه مابين كې دمساوات (برابروالي)جهت .

* د دي حقوقو په ضمن كې د غلامتوب او مريتوب د تهولوقسمونولغوه كيدل او ختميدل هم دي ، اودا يې يو باطل عمل ګڼلى اود دي باقي پاتي كيدل جايزندي .

## دغربيانو په نزد دحريت (ازادي) قسمونه :

* دوي د حريت (ازادي) قسمونه په تفصيل سره بيان کړي دي چه هغه دا دي : انفرادي ازادي ، سياسي ازادي ، مالي ازادي ، د مساوات ازادي ، د قضاء او فيصلي ازادي ، د حقوقو او په هرملک کې د هويت اخستلو ازادي .

* دوي د سړي اوښځي په مساوات کې تفصيل کړی دی ، او دوي وايي ټول خلک برابردي اګرکه د دوي رنګونه اوطبقات مختلف وي ،اګرکه د دوي د هيوادونو حقوق او طريقه د کارکولود يوبل څخه مختلفه او بدله وي ، دوي ټول په کارونوکې برابردي ،اودوي چه د هستوګني لپاره کوم هيواد غوره کوي ، اويا نورهغه تفاصيل چه دي دوه مهمو أصولوته د هغي رجوع کيږي :

لومړنی اصل : د انسان ازادي .

دوهم اصل : د دوه انسانانو په مابين کې برابروالی .

* د دغي شرطونو په ضمن کې دا هم وارد دي : يو هيوادبه د بل هيواد په کارونوکې تصرف او لاس وهنه نه کوي ، د خلکو سره په معامله کې د هيواد حق مقيد او

محدود کول ، نوردي له امله غربي هیوادونه اوملګري ملتونه د ډیروهیوادونو په کارونو کې تصرف او لاس وهنه کوي ، او ډیرشیان یې په هغوي لازمي کړي دي ، او ډیرکرتي دوي د ځنو دولتونو په هکله خبرتیا ورکړي او تهمت پري ولګوي چه دوي بعضي حقوق عملي کړي ندي ، اوډیرکرتي د دوي تصرف او لاس وهنه په نورو هیوادونو کې د دوي د خپلو ملکونو د کارونو څخه په غټه کچه وي ، او د هغوي څخه پوښتنه کوي چه تاسو څومره ازادي په عملي توګه راوستي ده؟، اود هغو څخه د انفرادي حالاتو پوښتنه هم کوي، اود هغوي په سیاسي ازادي کې هم لاس وهنه کوي ، اودوي د دیموکراسي اوازکوي اودوي وایي هیوادونه به پخپله د خپل ځان په هکله فیصله کوي ،او د انتخاباتو (ټاکنو) لپاره به مسؤل خلک معلومیږي او پرلمان به جوړیږي لکه څرنګه په غربي هیوادونوکې دی .

* پدي کې کوم شک نشته هغه ملکونه (هیوادونه) چه هوښیارنه وي کله چه هغوي ته دغه مبادئ (أصول) ورداخل کړي نو هغه د دوي د سیطري او اشغال لاندي په اسانتیاسره راځي ، اوبیا د دي ملکونو اختیار او واک هغه

چاته ورکوي چه هغوي د غرب مدد کونکي او مزدوران دي او په خاصه توګه هغه ځوک چه د ازادي په نوم يي حرکتونه پيل کړي دي ، او ډير هغه ملکونه چه د دوهم نړي وال جنګ څخه روسته يي استقلال اعلان کړی او د قسم استعمار (اشغالګرو) استقبال نه کوي ، د حقوق انسان په نوم باندي اعلانونه او اوازونه د دي لپاره خاص اسباب او حالات دي چه هغوي ايجاد کړي دی ، او د دي عام اعلان لپاره اهداف دي چه د لوي اشغال ګرو دولتونو اصولو (بنسټونو) لپاره خدمت کوي .

## د مسلمان لپاره اسلامي دين فخر دی :

* د حقوق انسان کلمه نن سبا د غربي ټولنو په توسط ډيره تکراريږي ، په مسلمان باندي واجب ده چه په خپل دين باندي فخر کونکې وي ، او په دي باندي يې اعتماد وي کوم حق چه د انسان لپاره دی هغه ډير لوي دی ځکه چه هغه د الله تعالی له طرفه دی ، ځکه هيځ څوک د الله تعالی په مخلوق اوچه دهغوي لپاره څه مناسب دي د الله تعالی څخه علاوه ډيربنه نه پوهيږي ، لکه څرنګه چه الله

تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي : ﴿ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴾[۱] ((آیاندی پوهه هغه څوک چه پیدایش یې کړی دی ، او هغه رازونه پیژني خبرداردی)) .

* الله تعالی چه کوم څیز جایزکړی دی نو همدغه الله تعالی د انسان د حق ساتنه کوي ، ټول خلک چه د یو بل څخه مختلف دي د هغوي د حقوقو ساتنه کوي ، نو له دي امله ډیرو علماوو د (د انسان د حقوقو) په موضوع دقت او پلټنه کړی ، روسته د پوره پلټني نه ورته دا ثابته شوي چه اسلامي شریعت ، اود نبي کریم ﷺ سیرت ، او د قرآن کریم او سنتو أحکامو اودخلفاء راشدینو فعالیتونه دا د انسان د حقوقو لپاره یوه ستره لومړني وثیقه ده ، او دا په مثال او عملي کولوکې ډیره لویه ده ، دا د رسول الله ﷺ اود خلفاوو راشدینو په زمانه کې هم په پوره توګه عملي شوي وه ، او ډیرو پلټنه کوونکو او لیکوالانو د دي موضوع په هکله لیکنه کړي ده .

---

[۱] [سورة الملك/۱۴] .

## دانسـان دحقـوقـوپـه هكلـه دځنوعلمـاوو ليكني :

* بعـضي د هغوعلماووڅخـه چـه پـدي موضـوع کې يي ليکني کړي نود ملګرو ملتونو دغه إعلان او خبرتيا ته يي د ضعف اود نقصان په سترګه کتلي دي ، او بيا يـو ليکـوال د دغـه اعـلان هـره مـاده پـه اسـلامي تـاريخ او پـه اسـلامي شـريعت کـې ثابتـه کـړي ، او بيـا يـي ويلـي چـه اسلامي شريعت يواځني دين دی چه ديته يي سبقت کړی دی، ترديي چه د مريتوب لغوه كيدل ، او د سړي او ښځي برابروالـی او جـايز كيدوتـه يـې د اسـلامي ديـن د سـبقت کوشش کړی ، دغه د انسان حقوقو اعـلان تـه پـه ضـعيف نظرکتنـه کـې ډيـرو ليکوالانـو سـره پـه هغـو تهمتونـو کـې کومک کوي کوم چه دوي ته د غربيانو لخوا متوجي دي ، او يا دا چه اسلامي دين بعـضو موضـوع ګـانو، حقوقـو او حريت تـه سبقت کړی دی ، دا خبـري پـه څه مجالاتو کـې صحيح دي او پـه څه مجالاتو کـې مـردود دي ځکـه د دي ځنو افکارو اسلامي شريعت مخالف دی .

* بعضي د دوینه هغه څوک دي چه د دي مسئلي علمي پلټنه او تفتیش یي په مجلو او مقالاتو کې ذکر کړي دی ، نود دي څرګندوالی یي کړی دی کوم حقوق چه په غربي ټولنه کې د انسان لپاره دي اود ملګرو ملتونو لخوا یي خبرتیا ورکړی شوي ، بعضي د دینه داسي دي چه په شریعت کې شته ، او ځني په بنیادي توګه د اسلامي شریعت سره ټکر او مخالف دي ، الله تعالی مونږ ته حکم کړی چه په فیصله کولو کې هغه ته رجوع وکړو، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي : ﴿ وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ ﴾ (١) ((او حکم کوي تاسوته) چه فیصلي کوي په مینځ د دوي کې په هغه کتاب چه نازل کړی دی الله تعالی ، او تابعداري مه کوه د خواهشاتو د دوي ، او ځان ساته د دوي نه (هسي نه) چه واړوي تا لره د بعضي هغه نه چه نازل کړی دی الله تعالی تا ته)) .

---

(١) [ سورةالمائدة /۴۹].

* اوهمدارنګه الله تعالی فرمایي : ﴿ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَأَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ﴾ [۱] (( ندی واک اختیارمګرصرف د الله تعالی دی ، حکم یې کړی دی چه بندګي به نه کوي په غیرد هغه نه )) .

* په علمي او عملي مسائلوکې به خاص الله تعالی لره فیصله وي .

* پدي یودرس (بیان)کې د دي موضوع متعلق دا ممکنه نده چه مونږ ټول مربوطه مسائل ذکرکړو، لیکن دیته به یي رانږدي کړو چه د انسان د حقونو شرعي بنیادونه او بستهونه څه دي ؟ .

* غربیان اشغالګراود هغوي تابعداران چه د اسلام دشمنان دي دوي چه د انسان د حقوقو د ورکولو په هکله کوم اعلانونه او خبرتیا ورکوي په هغه طریقه چه هغوي یي غواړي پدي کې د دوي تابعداري داسلام اود مسلمانانو په مصلحت نده ، بلکي دوي د دي له امله د مسلمانانو په

---

(۱) [ سورة یوسف / ۴۰] .

کارونو کې لاس وهنه کوي چه مسلمانانو په خپل اسلامي دین باندي کوم تمسک کړی دی د هغي څخه یې هغه څه ته اړوي چه غربیان یې غوښتونکي دي ، لکه په پوره توګه ازادي ، د سړي او ښځي د یو بل سره په مالي ، حقوقي او سیاسي کارونوکې علاقه او ارتباط ، اویاداسي نور.

**په اسلام کې د بني آدم منزلـه او مرتبـه** : په حقوقوکې په بنیادي توګه حقوق د انسان دي :

* چه د دي رجوع د الله تعالی دي وینا ته کیږي :
﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ﴾ [1] (( او یقینا مونږ عزت ورکړی دی اولاد د آدم عليه السلام ته )) .

* علماء وایي : د الله تعالی تکریم او عزت د بني آدم لپاره پدي کې رجوع دوه شیانو ته کیږي :

* **اول** : الله تعالی د بني آدم تکریم او عزت په پیدایش کې کړی دی ، او هغه څه چه په آسمانونو او ځمکو

---

(١) [سورة الإسراء / ٧٠].

کې دي هغه يې د ده لپاره تابع کړي دي لکه څرنګه چه په ذکر شوي آيت کې يې يادونه وشوه .

* **دوهم** : الله تعالى بني آدم ته عزت ورکړی دی چه دا يې د حيوان اونورو مخلوقاتو څخه په منزله او مرتبه کې اوچت کړی دی ، او دا يې په ټولو مخلوقاتو کې غوره کړی دی ، او په کوم يوشي سره چه ده ته په خپله زندګي کې سعادت او نيکبختي رسيږي اود ده پکې مصلحت وي او رغبت يې لري ، اود ده تعلق د انسانانو د جنس سره ، نودا کارونه هم دده په غوره والى او فضيلت باندي دلالت کوي ، اوبل دا چه د ده له امله شريعتونه راغلل چه د الله تعالى او بندګانو حق بيان کړي ، لکه د الله تعالى دا وينا : ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴾ (١) ((او يقينا عزت ورکړی دی مونږ اولاد د آدم عليه السلام ته ، اوسواره کړي دي مونږ دوي لره په وچه او په درياب کې ، او مونږ روزي هم ورکړې ده دوي ته د پاک رزقونو نه ، او غوره والى مو دوي ته

(١) [سورة الإسراء / ٧٠]

ورکړی په ډیرو د هغه چا نه چه مونږ پیدا کړي دي ، ډیرغوره والی)) .

## د ازادي قسمونه :

*کوم حقونه چه د (حقـــوق الإنـــسان) (د انسان د حقونو) د کلمي لاندي داخل دي لکه څرنګه چه مخکې ذکر شو نو د دي رجوع د غربي ټولنو او ثقافت نه د متأثره خلکو او بلکي د غربيانو په نزد دوه قسمو ته دی :

*اول قسم : حريت (ازادي)

* دوهم قسم : مساوات (برابروالی)

**اول قـــسم : حـريـــت (ازادي)** : دوي چه د حريت (ازادي) د کلمي وينـا کـوي دا پـه مطلقـه توګـه د دوي پـه هيوادونو او ټولنوکې هم نشته ، ځکه د مقيدکيدو څخـه عـلاوه پـه مطلقـه توګـه ازادي هغـه دا چـه د انـسان خوښـه اواختيـاردی کـوم کاراوځه چه کـوي د ده سره بـه د هغـي محاسبه نه کيږي ، دا قسم ازادي پـه مخ د ځمکه کې هيڅ وجود نه لري ، هرڅومره چه ازادي وي ليکن د هغي لپاره

یو اخري حد او د پاي نقطه وي ، کـه یو څوک هرڅومره ازادي وکړي نو د دینه روسته ورته د ځنو شیانو په کولو کې د خلکو لخوا ویل کیږي دا کار منع دی ته پدي کې ته ازاد نه یي .

* نو دا انسان ته د دي تصور اویو فکر ورکوي چه د ازادي کلمه په مخ د ځمکه کې په نِسبَتي ډول موجود ده ، په مطلقه توګه په هرشي کې ازادي لکه په مال ، سیاست ، قضاء ، د خپل نفس په تصرف ، په وینو او په اولاد کې ، دا قسم ازادي په مخ د ځمکه کي د مقید کیدو څخه په غیر موجود نه ده ، د نړي هیوادونه په ازادي کې د یو بل څخه په ډیروالي اوکم والي کې مختلف اومتفاوت دي .

* نومونږ به دا ووایو د حریت (ازادي) کلمه ( د انسان حقوقو) څخه یوه حصه ده ، دا په مطلقه توګه د غربیانو سره موجود نه ده ، اوکچیرته دوي په خپلو نظرونود هغي لپاره بشري قیدونه یبني وي نو مونږ ورته داسي وایو : دا اصل (بنیاد) په دي دلالت کوي چه د حریت مقید کول د حریت کلمه ختمه او زائله کړه چه هغه هرانسان ته د قبول وړ وي ،

کله چه د ازادي لپاره دا ممکنه ده چه مقبوله وګرځي او خلک ورته میلان وکړي نو بیاچه انسان څرنګه ازادي غواړي بایدورکړي شي چه په مطلقه توګه ازادي ورته حاصله شي،اوکله چه دي په ظاهره توګه یوه ازادي مقیده کړه دبل قسم ازادي نه، یعني قانون مقیده کړه ، او په باطن کې دي هم په پټ استعمال سره مقیده کړه، اود هغه په مال او طاقتونو باندي واکداره او مسلطه شوه نو دلته دا ازادي بیا په مطلقه توګه سالمه پاتي نه شوه .

* نو بایدمونږ پدي پوهه شو چه د حریت لپاره اساس او بنیاد په کوم چه دوي (د انسان د حقوقو) لپاره اواز کوي باید دي ته توجه او پاملرنه وشي چه په مطلقه توګه ازادي موجود نه ده ، بلکي لابدي ده چه ازادي مقیده وي ، یعني په مخ د ځمکه کې انسان چه څرنګه د ده طبیعت یې غواړي په خپلو تصرفاتو اوکړونو کې په کامله توګه ازاد نه دی ، بلکي دده ازادي لپاره یوه معلومه اندازه ده چه د هغي څخه تجاوزنه شي کولی، نوله دي امله ددوي په (پرتوکولاتو او په (إتیکیت) کې راغلي دي اوهمدارازځني نورشیان دي څوک چه د دي شیانو په عملي کولو باندي په رسمي

مناسبتونوکې پابندي اوالتزام ونکړي نودهغو څخه يې منع کوي اود حاضريدلواوخبرو په وخت کې به په خاص لباس اغوستلو سره التزام او پابندي کوي .

* د ازادي د نشتوالی يوقسم دی چه دا په هرځاي کې موجود دی ، پدي قسم کې دوي وايي : دا مناسب نده چه انسان ته دي د هغه ازادي ورکړي شي ، ځکه په دي کې د ده د طبيعت اومزاج ، ارتباطاتو، او نورو حقوق څخه نفي شوي ده، نو دوي چه کوم بنياد او اصل کيښودلی وو چه د انسان په حقوقوکې به په مطلقه توګه سره ازادي وي دا اصل په کامله توګه سره منفي دی او وجود نه لري .

**دوهم قسم : مساوات (برابر والی)** : په دي سره دغربيانود سړي او ښځي په مابين کې په هر شي کې برابروالی مقصد دی ،اود ټولوخلکو په برابروالی سره د دوي مقصد دا دی چه دوي ټول د حقوقو په اخستلواو ورکولو، په تعليم کولو، په صحت مندي باندي اهتمام کولو او علاج کولو، په سفر کولو او د خپل هيواد په کوم ځاي کې چه اوسيدل غواړي اود مريتوب په ختمولو کې برابردي ، لکه

څرنګـه چـه پـه دي بانـدي د دوي ليکلـي شـوي مـادي او ليکني په څرګند ډول دلالت کوي.

* پدي مساوات (برابروالی) کې ځني قابل د قبول دی اوځنـي قابـل د قبـول نـدی ، إن شـاء الله د دي بيـان بـه روسـته راشـي ، دلتـه زمـونږ مقـصد دا نـدی چـه پـه دغـه وثائقي اعلان تنقيد اواعترض وکړو او يا دا چه د هغي په تصحيح کې زيادت او نقصان شوی دی ، ليکن زمونږ دلتـه مقـصد دا دی چـه د انـسان کامـل حقـوق ده تـه الله تعـالی ورکړی دی.

* انسانان چه کله دا اراده وکړي چه بل چا ته حق ورکړي نو دا د خواهشاتو څخه خالي نه وي ، هر هغه څوک چه د قانون ينبودونکې وي په هغي کې خپـل خواهشات داخلوي ، نو په دي اساس کله چه ته غربي قوانين ويني لکه د فرنسي اوأمريکا او يا د دي دواړو په شان نور، دوي په دغي قوانينو کې وخت په وخت تغيير او تبديل راولي ، دا ځکه د دغه قانون چه د لومړي ځل لپاره چا بنيـاد يـښی وو نوهغه پکې د خپل دولت (هيواد) د ځنومصالحو رعايت

کړی وو، او یا یي په دغه قانون کې ځني مسائل د خپلو مشهورو مشرانو د ډیروالی د رعایت په اساس داخل کړي وو، او یا د ډیر وخت په تیریدلو سره په هغي کې تبدیل او تغییر راولي کله چه هغي ته ضرورت ، نو په دي وجه الله تعالی خبر ورکړی چه جاهلي حکم (فیصله) د خواهشاتو فیصله ده ، الله تعالی په قرآن کریم فرمايلي : ﴿ وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ ﴾ [۱] (( اودا حکم دي تانه چه فیصله کوه په مینځ د دوي کې په هغه کتاب چه نازل کړی دی الله تعالی او تابعداري مه کوه د خواهشاتو د دوي )) .

* ځکه هره فیصله چه د شریعت د فیصلي څخه مخالفه وي نو لابدي ده چه په دغه فیصله کوونکې شخص باندي خواهشات غالبه شوي دي او د حق د رسیدلو څخه یې منع کړی دی .

* او دایقیني ده چه خواهشات د حقوقو په اداء کولو کې انحراف او تبدیل راولي ، دغه بنستونو (بنیادونه) چه

---

(۱) [ سورة المائدة /۴۹] .

غربيانو يې ايجاد کړې دی په بشري او انساني فکراونظر بنادي پدي کې خواهشات داخليږي ، او پدي سره لوي او قوي ملکونه (هيوادونه) رغبت لري چه په ضعيفه اوکمزورو هيوادونو اويا هغه واړه هيوادونه چه ډيري منافع او زيرمي لري په هغوي باندي واکمن اواختيارمن شي او د خپل اشغال لاندي يې راولي .

## د رسول الله ﷺ د بعثت څخه مخکې عربي تولني ته لنډه کتنه :

* کله چه ته د رسول الله ﷺ د بعثت څخه مخکې په عامه توګه عربوته کتنه وکړې اويا هغه عرب چه د مکي مکرمي په چاپيريال کې اوسيدل او يا په عربي جزيره کې اوسيدل ، اويا هغه څوک چه په شام ،عراق ، مصر، فارس او روم کې اوسيدل ، نو ته به دي نتيجي ته ورسيږې چه ازادي اومساوات شتون نه لري، بلکي په هغو تولنو کې (شريعة الغاب ) رائج وو ،يعني( قانون قوي طرف ته د بقا اجازت ورکوي )، قوي به ضعيف دمينځه وړو، او ځنو خلکوبه په نورو باندي خپله سيطره او واکمني راوستله ،

نو له دې امله ربعي ﷺ د فارس قائد (مشر) ته وویل کله چه ترینه هغه پوښتنه وکړه : (( ماجَاءَ بِكُمْ ؟ ، قَالَ : اللهُ ابْتَعَثَنَــــا ، وَاللهِ جَاءَ بِنَا لِنُخْرِجَ مَنْ شاء مِنْ عِبَادَةِ الْعِبَادِ إِلَى عِبَادَةِ الله ، وَمِنْ ضَيْقِ الدُّنْيَا إلى سَعَتِهَا ، وَمِنْ جَوْرِ الْأَدْيَان إِلَى عَدْلِ الإِسْلاَمِ )) (( د څه په وجه یې تاسو ته راتګ کړی؟، نو هغه ورته وویل : الله تعالى مونږ ته رالیږلی دی ، قسم په الله تعالى مونږ ته یې راتګ کړی چه مونږ وباسو هغه څوک چه د هغه خوښه شي د بندګانو د بندګي نه یوائې د الله تعالى بندګي ته ، او د تنګي د دنیا نه د هغې پراخوالی ته ، اود أدیانو د ظلمونو نه د اسلام عدل ته )) [١] .

* نبي کریم ﷺ راغی او هغه ته د اسلامي شریعت وحي وشوه ، اوالله تعالى ورته حکم وکړو چه د حق ښکاره اعلان وکړی ، او نږدې خپلوانو ته ویره ورکړي ، بیا ټولو خلکو ته هغه ویره ورکړی ، اود ده پیغمبري یې د خلکو لپاره رحمت ګرځولي ده ، الله تعالى په قرآن کریم کې

---

[١] [د إمام طبري کتاب / تاریخ الطبري - (ج ٢ / ص : ٤٠١) ، وګوره ].

فرمايلي : ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ ﴾[١] (( ته نه يې راليږلی مونږ مګر رحمت د ټول عالم لپاره )) .

* الله تعالى چه رسول الله ﷺ په دغه ټولنه کې راوليږو نو په دغو قبيلو کې نهايت زيات عصبيت او تربګني او بي اتفاقي وه چه د هري قبيلي أشخاصو د بلي قبيلي څخه ځانونه غوره او اوچت ګڼل ، او ځني قبيلي په ځنو نورو باندي حاکمي او واکمني او اختيارمندي وي ، نو رسول الله ﷺ دوي ته په يو لوي اصل باندي راتګ وکړو چه هغه د الله تعالى دا وينا ده : ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾[٢] (( ای خلکو: يقينا مونږ پيدا کړي يي تاسو د يو نارينه او د يوي زنانه نه ، او جوړ کړی يي مونږ تاسو خاندانونه او قبيلي، د دي لپاره چه يو بل وپيژنی ، يقينا ډير عزت مند د تاسو نه د الله تعالى په نزد ډير تقوی داردی )) .

---

[١] [سورة الأنبياء/١٠٧].

[٢] [سورة الحجرات/١٣].

* نو رسول الله ﷺ عزت ، غوره والی او خصوصیت په هغوي کې هغه چاته ورکړو چه ډیر پرهیزګاروو، بلکي هغه رنګ ، قبیله او بنارمعیار ونه ګرځوو بلکي هغه معیار تقوی وګرځوله ، نو له دي امله هغه د الله تعالی دا وینا وویله : ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُم ﴾ ، نو پدي اساس زمونږ نبي کریم ﷺ وویل : (( يَا أَيُّهَا النَّاسُ ، أَلاَ إِنَّ رَبَّكُمْ وَاحِدٌ ، وَإِنَّ أَبَاكُمْ وَاحِدٌ ، أَلاَ لاَ فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى عَجَمِيٍّ ، وَلاَ لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ ، وَلاَ أَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ ، وَلاَ أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ ، إِلاَّ بِالتَّقْوَى ))[١] (( ای خلکو : خبردار شي ستاسو رب یو دی ، او ستاسو پلاریودی ، خبردار شي نشته غوره والی د عربي په عجمي باندي ، او نه د عجمي په عربي باندي ، او نه د سوررنګي په توررنګي باندي ، اونه د تور رنګ والا په سوررنګ والاباندي ، مګرپه تقوی سره )) .

* په یو أثر کې داسي راغلي : (( النَّاسُ سَوَاءٌ كَأَسْنَانِ الْمُشْطِ وإنما يتفَاضَلُوْنَ بِالْعَافِيَةِ )) (( ټول خلک د ګمنځي د

---

[١] [روایت یې إمام أحمد په خپل مسند -(ج ٥ / ص : ٤١١) ،کې کړی دی] .

غابنسونو پـه شـان برابـردي ، يقينـا د دوي غـوره والـی پـه عبادت سره دی )) [١].

* دا يـوه ځرګنـده خبـره ده چـه الله تعـالی خلـک پـه شـرعي خطـاب کـې د مکلـف کيـدو پـه اعتبارسـره برابـر ګرځـولي دي ، پـدي کـې د سـړي او ښـځي ، ازاد ، او مريـي اوغريب او شتمن فرق نشته ، ټولو خلکو ته د الله تعالی په توحيـد سره حکم شـوی دی ، چـه د هغـه د حکمونـو پابنـدي وکړي ، او د خپل تـوان مناسب د هغـه څخه ويريـږي ، نـو دا په پوره توګه په مکلفيت کې برابروالی دی .

* همداراز کله چه اسلام راغـی نـو د خلکـو پـه مـابين کې يي بې اتفاقي په کامله توګه سره ختمه کړه ، ټول خلـک يې ورورلـي تـه واپـس کـړو، بيـا رسـول الله ﷺ د مهـاجرينو او انصارو په مابين کې وروروليي اعـلان کـړه ، بلکـي پـه مدينه منـوره کـې يـې د ازاد او مريـي پـه مـابين کـې هـم ورورولـي

---

[١] [روايت يې إمام جلال الدين السيوطي په خپل کتاب / : (جامع الأحاديث - ج ٢٢ / ص : ٢٩٥) ، کې کړی دی ، اوشيخ ألباني دي حديث تـه ډيرسـخت ضعيف ويلي دی ، د زيات معرفت لپاره (سلسلة الأحاديث الضعيفة) شماره نمبر: (٥٩٢) : ته مراجعه وکړه ].

وګرځوله ، د علي ﷺ څخه په روايت کې راغلي چه رسول الله ﷺ سلمان فارسي ﷺ په خپل خاندان کې داخل کړو نو هغه وويل : (( سَلْمَانُ مِنَّا أَهْلَ الْبَيْتِ )) (( سلمان زمونږ د خاندان څخه دی )) [۱].

* داحديث د نبي کريم څخه مرفوع روايت شوی دی د دي مرفوع کيدل يې صحيح ندی ، او د دي موقف کيدل په علي ﷺ صحيح دی .

---

[۱] [روايت يې إمام طبراني په خپل کتاب / المعجم الکبير- (ج ۶ / ص ۱۰) ، او إمام حاکم په خپل کتاب / المستدرك على الصحيحين مع تعليقات الذهبي في التلخيص –(ج ۳ / ص : ۶۹۱) ، او ابن أبي شيبه په خپل کتاب / المصنف –(ج ۷ / ص : ۴۱۲) ، او ابن سعد په خپل کتاب / طبقات : (۳۴۲/۲ ، ۸۵/۴) ، او أبونعيم په خپل کتاب / الحلية : (۸۷/۱) ، او ابن عساکر په خپل کتاب / تاريخ الدمشق : (۴۱۱/۷ ، ۴۱۵) ، کې کړی دی ، اوشيخ ألباني ورته موقوف صحيح ويلی دی ، اوديته مرفوع ويل يې سخت ضعيف ګرځولی دی ، د هغه کتاب / السلسة الضعيفة : د شميري نمره : (۳۷۰۴) ، وګوره ].

## د خلکو په مساوات (برابروالي) کې اسلام سبقت کړی دی:

* دا د خلکو په مابين کې برابروالی او د دوي په مابين کې فرق نه کول دا هغوکارونو څخه دی چه اسلام ورته سبقت کړی دی او د انسان لپاره يې پدي مجال او ميدان کې حقوق ثابت کړی دي ، او ده ته يې په دي اعتبار حق ورکړی چه دا د آدم عليه السلام څوي دی ، دوي ټول د الله تعالی په وړاندي په حقوقوکې برابر دي ، اودوي ټول په خپل مابين کې د حقوقو او واجباتو په اداء کولوکې برابردي.

* نبي کريم ﷺ زيد بن حارثه رضي الله عنه د مسلمانانو په لوي لښکر باندي اميرکړو پداسي حال کې چه هغه مريې وو، او د ده څخه روسته يې أسامه بزيد رضي الله عنه د مسلمانانو په لښکر امير کړو اود دي لښکر بيراغ أبوبکر رضي الله عنه سره وو.

## د اسلامي فتوحاتو څخه وروسته ډير اعجموته مشري ورکړی شوه:

* کله چه مسلمانانو د نړي په سطحه په مختلفو ښارونوکې فتوحات ترلاسه کړو او اسلامي دين خپور شو، نو فارسيانو او نوروأعجمي خلکو ته مشري واپس شوه ، تر دي چه په دغه أعجموکې مشهورعلماء پيدا شو، او ډير په کې د جوماتونو امامان شو او بيا زياتوخلکو د دوي د علم څخه فايدي حاصلي کړي ، او د اسلام په تاريخ کې دا هم راغلي دي چه ډيرد أعجموخلکوڅخه په علم او فتوی ګانو کې د مسلمانانو قائدين او مشران شو، په ډيرو کارونو کې دوي د مسلمانانو مشري کوله ، په علم کې د دوي د قيادت او مشري مثال : د دين مشهورإمام أبوحنيفه رحمه الله عربي نه وو، او إمام أبوعبدالله محمد بن إسماعيل بخاري رحمه الله ته وګوره چه د هغه کتاب د خلکو لپاره پيشوا وګرځيده ، ده دومره شهرت پيدا کړو چه هرمسلمان يې پيژني او يا د دي دواړو څخه علاوه نورشو، کله چه خلکو اسلام په ځانونو عملي اوتطبيق کړو بيا يې د خلکو په مابين کې فرقونه ختم کړو، نو بيا دغه أعجم خلک د عربو

إمامان او مشران شو په او د عربوڅخه په ډيرو ميدانونوکې مخ په وړاندې لاړو، ځکه هغوي ته په علم سره مرتبه او شرف حاصل شو او د توحيد بيراغ يې اوچت کړو چه هغه د دي کلمې : ( لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ) څخه عبارت دی ، نو اسلامي دين په خلکو کې دا ځرګنده کړه چه د عربي او أعجمي په مابين کې هيڅ فرق نشته مګر يواځي په پرهيزګاري سره .

## اسلامي دين د خلکو د مشکلاتو د حل لاره ده :

* کله چه مسلمانانوخپل ځانونه په اسلامي آدابو خايسته کړواوپه دي سره يې ځانونه وستايل نو بيا د هغوي په مابين کې ژبني ، سمتی ، قومي جګړي او بحثونه ختم شو، لکه څرنګه چه دا شيان د اسلام څخه مخکې په جاهلي زمانه کې وو، چه د يو بل مشري اومخکې والی يې نه منه ، خو کله چه هغوي په اسلامي دين کې داخل شو نو له دي امله بيا هغوي ټول برابرشو.

* بیا چه کله د قریشوأموي او عباسي دولتونه ختم شو اود ممالیکو او بني عثمان دولتونه شروع شوو، دوي په لومړني وخت کې په صحیح طریقه وو، مسلمانانو د دوي په مشري باندي اعتراف اواقراروکړو او د دوي تابعداران شو اوهغوي يي خپل مشران او امیران ومنل ، ځکه هغوي په دوي کې شرعي مصلحت ولیدو او بل د دي لپاره چه د خلکو مصلحتونه ثابت شي .

* قومي او ژبني تعصب ته د لومړي ځل لپاره اسلام په عملي توګه د پاي نقطه کیښودله ، او د خلکو ښودنه يې دیته وکړه چه بیاد دوي په سینوکې د اسلام د تطبیق اومنلو په اړوند کوم حرج نه وو ، لکه څرنګه چه دا د اسلام په تاریخ کې څرګنده ده ، اسلامي دین کې مساوات یو لوي بنیاد دی او دا په خلکو کې په عملي توګه موجود دی لکه څرنګه چه د اسلام تاریخ پدي جانب کې ګواه دی .

## اسلامي شريعت د خلکو مساوات په حقوقو کې ثابت کړی دی :

* اسلامي شريعت د مساوات جانب د خلکو په حقوقوکې په کامله توګه ثابت کړی دی ، دلته په شريعت کې دوه شيان دي :

اول : مساوات (برابروالی) .

دوهم : عدل (انصاف) .

* عدل کول په مطلقه توګه واجب دی ، او مساوات په خپلوجوانبو اومجالاتوکې په مطلقه توګه واجب ندی ، د دي وضاحت : عدل ديته وايې چه واجب اداء شي ، او هر حقدار ته خپل حق په غيرد تجاوزکولو نه ورکړی شي ، الله تعالی په قرآن کريم کې د عدل په کولو سره په مطلقه توګه حکم کړی دی هغه فرمايلي : ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى ﴾[1] (( يقينا الله تعالی حکم کوي په انصاف

---

(1) [سورة النحل / ٩٠] .

کولو سره، اوپه احسان کولو سره، اوپه حقونو ورکولو خپلوانو ته)) .

* د خلکو په مابين کې عدل او انصاف ديته وايي چه هر چا ته خپل حق پوره ورکړی شي، د څه کارونو په کولو او د څه صفتونود موجوديت له امله به هغه د حق حاصلولو څخه نه محروميږي، د هغه د منزلي او مرتبي مناسب به هغه ته حق ورکول کيږي ، نو په دي اساس په اسلامي شريعت کې داراغلي دي کله چه دخلکومخالفتونه د شرعي حدودو څخه کم وي نودوي په دي کې برابرندي، رسول الله ﷺ فرمايلي : (( أَقِيلُوا ذَوِی الْهَيْئَاتِ عَثَرَاتِهِمْ إِلاَّ الْحُدُودَ )) ((کله چه د مروءت اود ستايلي شوي صفتونو والا خلک ګناه وکړي او د هغوي عادت ګناه کول نه وي نو معاف يي کړئ ، مګر په هغه حالت کې به نه معاف کيږي چه کله د دوي ګناه حد ته ورسيږي)) [١] .

* په ذکرشوی حديث کې د دغه ځانګړي حالت پوره برابروالی نشته د شرعي لوي مصلحتونو په اساس چه

---

[١] [روايت يې سنن أبی داود – په (ج ١٣ / ص : ١٩)، کې کړی دی].

د دي په وجه مرتب کيږي ، عمر ﷺ به بدريانو ته په تقسيم او ورکړه کې د نورو خلکو څخه امتيازات ورکول ، بلکي هغه به د بيت المال نه په مال ورکولوکې هغو کسانو ته خاص امتيازات ورکول چه په اسلام کې به اول داخل شوى وو په نسبت هغوکسانو ته چه هغوي به په اسلام کې روسته داخل شوى وو، هغه د هرچاد حقوقو رعايت کړى دى او بيا په خصوصي توګه د هغوکسانو يې زيات رعايت کړى چه اسلام يي د لومړي ځل لپاره قبول کړى وو اوبيايي منلي وو نوهغوي ته يې د هغود حوقوقو په اندازه امتيازات ورکړى وو اوديته عدل اونصاف وايي ، د خلکو د اسلام په نصرت او په ذاتي قدرتونو کې د هغوي برابرول جايز ندى بلکي عدل اوانصاف جايزدى ، (ځکه چه هر شخص د اسلام د مدد او خپل قدرت موافق حق حاصل کړي ، نو ديته عدل اونصاف وايي)) .

* په شريعت کې د حقوقو په هکله د مساوات حکم په ډيرو شيانو کې شوى دى ، لکه په قضاء کې د قضايي حقوقو مساوات ، د حق په اخستلو کې په خلکو او په دولت او په حاکمانواو په قاضيانو باندي مساوات

واجب دی ، یوشخص ته به په بل شخص باندي غوره والی نه ورکوي ، تر دي چه د قضاء په مجلس کې که قاضي ته یو مسلمان او بل کافر راشي نوهغه به مسلمان ته په کافر باندي غوره والی نه ورکوي ، ځکه دادفیصلي اوعدل مجلس دی، پدي مجلس کې ټول خلک برابردي دا په مطلقه توګه د انسان حق دی چه په اسلامي شریعت فیصله کوي او د قضاء په قوت خپل حق تر لاسه کړی ، الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي : ﴿ فَإِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ وَإِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ يَضُرُّوكَ شَيْئًا وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴾[1] (( پس کچیرته راشي دوي تا ته نوفیصله (پریکړه) وکړه په مینځ د دوي کې ، یا مخ وګرځوه د دوي نه (او حکم ونه کړی) ، پس هچیري ضرر به ونه رسوي تا ته د هیڅ شي،اوکه فیصله کوله تاددوي په مینځ کې نوفیصله وکړه په انصاف سره ، یقیناالله تعالی مینه کوي د انصاف کوونکو سره )) .

---

[1] [سورة المائدة /۴۲] .

* دا حق د اخستلو حق دی ، د دي حقوقو په اداء کولو کې ټول خلک برابردي ، دا هغه حق دی چه نبي کريم ﷺ د دي په هکله په ډيرومسايلو کې خبرتيا ورکړی :

## د يهوديانو دهلاکت سبب :

* د يهوديانو دهلاکت دا سبب هغه دا وو کله چه هغوي په شرعي احکامو، حدودو او په قضايي مسايلوکې د شريف او بې وزله (کم اصله)کسانوپه مابين کې فرق وکړو،يعني د قوم مخوروکسانو ته يي د عزت په سترګه کتل او بې وزلوکسانو ته يي د ذلت په سترګه وکتل ، نو پدي اساس نبي کريم ﷺ وفرمايل : (( وَايْمُ اللَّهِ ، لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ ابْنَةَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا )) ((قسم په الله ،کچيرته فاطمه دمحمد ﷺ لورغلاوکړی نولاس به تري پري کړم))[۱].

[۱] [روايت يې صحيح بخاری – په (ج ۱۲ / ص: ۱۹۳) ، او صحيح مسلم – په (ج ۵ / ص: ۱۱۴)، کې کړی دی] .

## د مسلمانانو وینې ، مالونه ، ابرو او عزت تهول برابر او یو شان دي :

* د مسلمانانو وینې ، مالونه ، ابرو اوعزت ټول برابر اویو شان دي ، د دوي په ابرو او وینو، او په قضاء او شریعت او مالي حقوقو کې هیڅ فرق نشته بلکې دوي ټول د الله تعالی د شریعت په مقابل کې برابر دي ، رسول الله ﷺ هغه سړي ته ځان د قصاص لپاره تسلیم کړو چه د هغه په حق کې د بدر په غزا کې خطا شوی وو، نو هغه ته رسول الله ﷺ د قصاص ورکولو موقع په لاس ورکړه : د أُسَیْد بن حُضَیْر رضي الله عنه د حدیث په اساس چه هغه فرمایلي : (( بَيْنَمَا هُوَ يُحَدِّثُ الْقَوْمَ وَكَانَ فِيهِ مِزَاحٌ بَيْنَا يُضْحِكُهُمْ ، فَطَعَنَهُ النَّبِيُّ ﷺ فِي خَاصِرَتِهِ بِعُودٍ ، فَقَالَ : أَصْبِرْنِي ، فَقَالَ : « اصْطَبِرْ » ، قَالَ : إِنَّ عَلَيْكَ قَمِيصًا وَلَيْسَ عَلَيَّ قَمِيصٌ ، فَرَفَعَ النَّبِيُّ ﷺ عَنْ قَمِيصِهِ فَاحْتَضَنَهُ ، وَجَعَلَ يُقَبِّلُ كَشْحَهُ ، قَالَ : إِنَّمَا أَرَدْتُ هَذَا يَا رَسُولَ اللَّهِ ))

((أُسَيْد بن حُضَيْر (د أنصارو ښخه يو سړی وو ) چه د خپل قوم سره يې خبري کولي ، او دا لږټوق ماروو په خپلو خبرو کې يې د ټوقوله امله خپل قوم خندوو، نو رسول الله ﷺ په امسا

باندي په تشوکې ووهه ، نوأُسَيْد بن حُضَيْر وويل : زه د تا نه قصاص غواړم ، نو رسول الله ﷺ ورته وويل : قصاص واخله ، نو بيا هغه وويل : تا کميس اغوستلی دی او مانه وو اغوستلی، رسول الله ﷺ خپل کميس د هغه د قصاص اخستلو له امله اوچت کړ نو بيا هغه خپل ځان ته راجوښت کړو، اود هغه د اړخ چپ کول يې شروع کړو، نو هغه وويل : د الله تعالی رسوله ! ماددي ښکلولواراده کړی وه ))(١).

* رسول الله ﷺ په خپل امت باندي د رحم له امله داسي هم ويلي : (( اللَّهُمَّ : فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ ، فَاجْعَلْ ذَلِكَ لَهُ قُرْبَةً إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ )) (( ای الله تعالی : هرمؤمن ته چه ما کنځل ( رد بد ) ويلي دي نو دا د هغه لپاره په ورځ د قيامت کې ستا نږدي کت وګرځوه ))(٢).

---

(١) [روايت يې سنن أبی داود – په (ج ١٥ / ص : ١٣٢) ، او حاکم په خپل کتاب / المستدرك على الصحيحين – په (ج ١٢ / ص : ١٧١) ، او إمام الطبراني په خپل کتاب / المعجم الكبير – په (ج ١ / ص : ٢٣٥)، او إمام البيهقي په خپل کتاب / سنن البيهقي الكبری – په (ج ٨ / ص : ٤٩) ، کې کړی دی].

(٢) [روايت يې صحيح بخاری – په (ج ٢١ / ص : ١٧١)، کې کړی دی].

* نوله دي امله په قضايي حقوقوکې ټول خلک برابردي ، برابره خبره ده چه دا مسلمان وي او که کافر وي ، د هر چا حق په قضاء اوشريعت کې يو شان دی پدي کې به د خلکو په مابين کې فرق نه کيږي ، د نصراني حق به مسلمان ته نه ورکوو، اونه به د مسلمان حق يهودي ته ورکوو، بلکي هرڅه به په واضحه دلائلوسره ترسره کيږي ، رسول الله ﷺ فرمايلي : (( أَدِّ الأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ ، وَلاَ تَخُنْ مَنْ خَانَكَ )) (( امانت هغه چا ته ورکړه چه ته يې امانتدار ګڼلی ، ته د هغه چا سره خيانت مه کوه چه د تاسره يې خيانت کړی وی )) [١] .

* او الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي : ﴿ وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ ﴾ [٢] (( او داحکم تا ته دی ) چه فيصله کوه په مينځ د دوي کې په هغه کتاب چه نازل کړی دی الله تعالی تاته )) .

---

(١) [ روايت يې سنن أبی داود –په (ج ١٠ / ص ٣٨٢) (١٧١)، کې کړی دی ] .

(٢) [ سورة المائدة /٤٩] .

* او همداراز الله تعالی فرمایلي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ ﴾ [١] (( ای ایمان والاو : کلک په انصاف حق بیان کونکي شئ دپاره د الله تعالی اګرکه نقصان وي په تاسو باندي )) .

* اوهمداراز الله تعالی فرمایلي : ﴿ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى ﴾ [٢] (( او تیز دي نه کړي تاسو لره بغض د یوم قوم په دي چه انصاف ونه کړي ، انصاف کوئ ، دا ډیرنږدي دی تقوی ته )) .

* نو په دي اساس د صحابوو په زمانه کې یهودي به مسلمان سره د قضاء مجلس ته راته په دغه مجلس کې به مسلمان ته په یهودي باندي کومه بهتري نه وه ، بلکې دوي هریو ته به د شرعي حکم او فیصلي له جهته د خصم په نظرکتلی شو، په دوي ټولوکې مساوات په غیر د ظلم نه واجب دی ،کله که په دي مسایلوکې تفاوت او فرق وشي ، (او حق حقدار ته ورنه کړی شي)،نو بیا به په ځمکه کې فساد

---

[١] [سورة النساء /١٣٥].

[٢] [سورة المائدة /٨] .

خپورشي، الله تعالی مونږ ته د ځمکې په اصلاح سره حکم کړی او په هغې کې يې د فساد کولوڅخه منع کړي يو، الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي: ﴿ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ﴾[1] ((او ورانی مه کوئ (په شرک سره) پس د اصلاح د هغې نه (په توحيد سره)، او دعا غواړئ د الله تعالی نه په ويره اوطمعې سره)).

* د ځمکې اصلاح په علم او د رسول الله ﷺ په رسالت منلواوپه هغو شرعي حقوقو اداء کولوسره راځي په کومو چه رسول الله ﷺ راتګ کړی دی، او ډيره لويه اصلاح د توحيد په منلو اود شرک په پريښودلو سره راځي، او ډير فساد د الله تعالی د حقوقو اود خلکود حقوقو په نقصان او کمې سره راځي[2]، په ځمکه کې به فساد درجه په درجه خپريږي تردې چه د الله غضب نازل شي، الله تعالی په قرآن کې فرمايلي: ﴿ كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ فَيَحِلَّ

---

[1] [سورة الأعراف/٥٦].

[2] [ابن أبي حاتم په خپل تفسير: ١/ ١٥٠١، ٥/ ١٥٢٠، او إمام سيوطي په خپل تفسير/ الدرالمنثور: ٣/ ٤٧٢، کې ذکرکړی دی].

عَلَيْكُمْ غَضَبِي وَمَنْ يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي فَقَدْ هَوَى *وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى ﴾[١] ((وويل مونږ خورئ د حلال پاک د هغي نه چه مونږ درکړي وو تاسوته ، اوسرکشي مه کوئ په دي کې ، پس نازل به شي په تاسوباندي غضب زما ، اوهغه څوک چه نازل شو په هغه باندي غضب زما پس يقينا هلاک شو ، او يقينا زه خامخابخنه کوم هغه چاته چه توبه يې وويستله ، او ايمان يې راوړه ،او بيا په سمه لاره کلک شو)) .

---

[١] [سورة طه / ٨١، ٨٢] .

## په مخ د ځمکه کې د خلکو قسمونه :

* خلک په اسلامي ښارونو او بلکي په ټوله ځمکه کې په لاندي قسمونو سره ذکر کیږي :

اول قسم : مسلمان .

دوهم قسم : ذمي کافر [۱] ، یعني (یهودي او نصراني) ،هغه کتابیان چه ذمیان دي ، فقهاوو د دوي مختلف تعریفونه کړي دي .

---

[۱] [د ذمي تعریف : (ذمیون ) د دي کلمي مفرد ذمي دی : دا د هغو کتابیانو څخه عبارت دي چه د دوي سره د آسماني دین څخه اصل وي ، علماء پدي خبره متفق دي چه د مشرکانو او بت پرستو لپاره ذمه نشته ، کله چه مسلمانان ددوي هیوادونه او ښارونه فتح کړي اوددوي څخه یي ازاد کړي نود مسلمانانو لخوا به دوي ته د اسلام قبلولو او یا جزیه دفع کولو کې اختیار ورکول کیږي ، کچیرته جزیه دفع کول ومني نو بیا دوي ته په خپلو کورونو کې د مسلمانانو لخوا امن امان ورکول کیږي ، او بیا به د مسلمانانو د حکم د لاندي خپل وخت تیروي اوپه دوي باندي به د مسلمانانو لخوا هیڅ قسم اعتداء اوزیاتی نه کیږي ، د ذمیانو سره به عهد اوپیمان نه ماتیږي ترڅو پوري چه هغوي دغه عهد او پیمان مات کړی نه وي ] .

دريم قسم: مُعَاهَدُون [۱].

څلورم قسم: مَسْتَأْمَنُون [۲].

پنځم قسم: الکافر الحربي (جنګي کافر) [۳].

---

(۱) [د معَاهَد تعريف: (معَاهَدُون) د دي کلمي مفرد معَاهَد دی: دا د هغو کسانوڅخه عبارت دي چه د دوي او د مسلمانانو په مابين کې د جنګ نه کولو عهد (وعده) وي، برابره خبره ده که دا عهد زمونږ په هيوادونو کې وي او که د هغوي په هيوادونو کې وي] مترجم.

(۲) [د مستأمَن تعريف: (مستَأْمَنُون) د دي کلمي مفرد مستَأْمَن دی: دا د هغو کافرانوڅخه عبارت دي چه هغوي سره د خپلوبادشاهانولخوا خط وي او د مسلمانانوهيواد ته د يو معلوم هدف اومقصد له امله داخليږي، او د مسلمانانو د حاکم څخه ورته اجازت شوی وي، اويا د جنګ په وخت کې د مسلمانانوخوا ته يومعلوم ځاي ته داخليدل غواړي او مسلمانان ورته اجازه ورکوي، نو ديته مستَأْمَن وايي، لکه د صحابوو په زمانه کې چه به د روم او فارس بادشاهانوله خوا هغوي ته قاصدان راتلل اويا په موجوده زمانه کې لکه سفيران شو] مترجم.

(۳) [د حربي کافرتعريف: (حَرْبِيُوْن)، د دي کلمي مفرد حَرِبي دی، دا د هغو کافرانوڅخه عبارت دی چه د دوي او د مسلمانانو په مابين کې د ذکر شوي کارونو څخه څه نه وي، حربي کافر ذِمي، مُعَاهَد اومستأمَن نه شي ويل کيدلی، دي قسم کافرانوته د مسلمانانو لخوا هيڅ قسم امن امان نه وي، د

* کله چه څوک په څمکه کې د کافرانو قسمونو پيژندل غواړي نو دا ذکرشوي څلور قسمونه دي ، يا به ذمي وي ، يا به مُعَاعَهد وی ، يا به مُسْتَأمَن وي او يا به حربي کافر وي .

## الله تعالی په قرآن کريم کې او رسول الله ﷺ په أحاديثو کې د کافرانو د حقوقو ورکولو حکم کړی دی :

* نبي کريم ﷺ د دي کسانو د حقوقو اداء کولو حکم کړی دی ، بلکي الله تعالی په خپل کتاب کې هم د کافرانو د حقوقو د اداء کولو حکم کړی دی پدي شرط چه هغوی جنګي کافران نه وي او د مسلمانانو سره په ښکاره توګه دشمني نه کوي ، الله تعالی فرمايلي : ﴿ لَايَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ * إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ

---

دوي جنګ کونکو وينه هدر او ضائع ده ، او د مالونو اخستل يې د مسلمانانو لپاره مباح او جايز دي ] مترجم .

أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴾[١] (( نه منع کوي تاسولره الله تعالى د هغوکسانو نه چه نه يي دى کړى جنګ تاسو سره په دين اسلام کې ، او نه يي ويستلي يي تاسودکورونوستاسونه ، چه نيکي کوي تاسو د هغوي سره ، او ورکوي حق په انصاف سره هغوي ته ، يقينا الله تعالى مينه کوي د انصاف کوونکو سره (په حق ورکولو سره) * ، يقينا منع کوي تاسو لره الله تعالى د هغو کسانونه چه جنګ کوي د تاسو سره په دين کې ، او ويستلي يي تاسو د کورونو ستاسو نه ، او امداد اوکومک يي کړى دى په ويستلو ستاسوباندي ، چه دوستانه کوي تاسو دهغوي سره ، اوچاچه دوستانه وکړه د هغوي سره نو دغه کسان دوي ظالمان دي )) .

* نو هغه حق چه شريعت کې د انسان په توګه د ذمي لپاره ثابت کړى دى اګر که هغه کافردى نو هغه به ترينه نه غصب کووبلکي دغه حق الله تعالى هغه ته ورکړى دى ، د عَبْد اللّه بن عَمْرو ﷺ د حديث په اساس هغه وايي

[١] [سورة الممتحنة/٨، ٩] .

رسول الله ﷺ فرمايلي : (( مَنْ قَتَلَ قَتِيلاً مِنْ أَهْلِ الذِّمَّة لَمْ يَجِدْ رِيحَ الْجَنَّةِ وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا )) (( چاچه د ذميانوڅخه څوک مړکړ نود جنت بوي به مونده نه کړي ، يقيناد هغې بوي د څلويښتوکلنود لري والي په اندازه موندل کيدی شي )) [1].

* او همدارنګه د عَبْد اللّه بن عَمْرو رضي الله عنه د حديث په اساس هغه وايې رسول الله ﷺ فرمايلي : (( مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا )) (( چا چه معاهَد مړکړ نود جنت بوي به مونده نه کړي ، يقينا د هغې بوي د څلويښتوکلنود لري والي په اندازه موندل کيدی شي )) [2].

---

[1] [روايت يې سنن نَسائی – په (ج ۱۴ / ص : ۴۸۲)، او إمام أحمد په خپل کتاب / مسند - په (ج ۱۴ / ص : ۴۴۵) ، اوحاکم په خپل کتاب / المستدرك على الصحيحين- په (ج ۲ / ص : ۱۸۴) ،اوإمام البيهقي په خپل کتاب / سنن البيهقي الكبری – په (ج ۸ / ص : ۱۳۳)، کې کړی دی].

[2] [روايت يې صحيح بخاری – په (ج ۱۱ / ص ۲۸۲)، کې کړی دی].

* ځکه د ذمیانو اومعاهَدینود امنیت مسؤلیت د مسلمانانوذمه واري ده ، ځکه دوي دمسلمانانو ښارونو ته ته په لوظ اوامان سره راغلي دي ، په دوي اود دوي په وینه به زیاتی نه کیږي ، او نه به د دوي په ابرو او عزت تجاوز کیږي ، او نه به د دوي مالونو سره زیاتی کیږي ،ځکه د دوي هریولپاره په شریعت کې د حقوقو ساتل واجب دي ، د ذمیانو او معاهَدینو اود مستَأْمَنِیْنُود حقوقو لپاره د قرآن کَریم او حدیثوڅخه دلائل ډیردي اوپدي جانب کې د علماوو ویناګاني هم زیاتي ذکر شوي دي .

## د جنګي کافرانو ماشومان، زنانه او بوډاګان به نه وژل کیږي :

* اوجنګي کافران دا هغه کسان دي چه زمونږ او د دوي په مینځ کې په ډیرو مسایلوکې چه د دوي سره تعلق لري جګړه ده ، اګرکه دوي زمونږ په سیطره کې اسیران شي نو د هغوي به عزت کیږي ، او کچیرته مونږ په هغوي باندي غالب شوو نومونږ به دهغوي ماشومان ، زنانه

اوبوډاګان نه قتل کوو[١]، سره د دینه چه دا قسم کسان په نورو شریعتونو کې ټول قتل کیږي ، لکه د موسی عليه السلام شریعت کې دا شته چه دوي به ټول د جنګ په حالت کې وژل

---

[١] [د بُرَيْدَةَ رضي الله عنه د حديث په اساس هغه وايي : (( كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ، إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ ، أَوْ سَرِيَّةٍ ، أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللَّهِ ، وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا ، ثُمَّ قَالَ : (( اغْزُوا بِاسْمِ اللَّهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ ، اغْزُوا ، وَ لاَ تَغُلُّوا ، وَلاَ تَغْدِرُوا ، وَلاَ تَمْثُلُوا ، وَلاَ تَقْتُلُوا وَلِيدًا )) (( کله چه به رسول الله ﷺ په لښکراو یا د صحابوو په یو ټولګې باندې امیر مقرر کړ، نو هغه ته به یې په خاصه توګه د الله تعالی نه په ویره سره وصیت وکړ، او د هغه سره چه به کوم مسلمانان وو نود هغو په هکله به یې ورته د خیروصیت وکړ، بیا به هغه وویل : د الله تعالی په لاره کې د هغه په نوم سره جهاد وکړئ ، چا چه په الله تعالی باندې کفرکړی دی نود هغه سره جنګ وکړئ ، جهاد وکړئ خو زیاتی، غدراو مثله مه کوئ ، او ماشوم هم مه وژنئ )) [صحیح مسلم - (ج ١١ / ص : ٤٤٥] .

* اود عَطِيَّةَ الْقُرَظِيِّ رضي الله عنه د حديث په اساس هغه ویلي : (( كُنْتُ مِنْ سَبْيِ بَنِي قُرَيْظَةَ ، فَكَانُوا يَنْظُرُونَ ، فَمَنْ أَنْبَتَ الشَّعْرَ ، قُتِلَ ، وَمَنْ لَمْ يُنْبِتْ ، لَمْ يُقْتَلْ ، فَكُنْتُ فِيمَنْ لَمْ يُنْبِتْ )) (( زه د بني قریظه د بندیانو څخه اوم ، نو صحابوو به کتل د چا په شرمګاه (فرضو) به چه ویښتان راښتلي وو نو هغه به یې وژه ، اود چا په شرمګاه چه به ویښتان نه وو راښتلي نو هغه به یې پریښوده، نو زه د هغوکسانو څخه اوم چه په شرمګاه (فرضو) مې ویښتان نه وو)) [سنن أبي داود - (ج ١٣ / ص : ٢١) ] .

کیږي ، هر چه اسلامي شریعت دی نوالله تعالی دا پدي مصلحت سره خوښ کړی دی چه دا به ترقیامت پوري همیشه او موجود وي ، جنګ کوونکي کافران به قتل کیږي او کله که د مسلمانانوسره بندیان شي نوبیا دهغولپاره ډیراحکام دي .

* مُعَاهَد اومُسْتَأْمَنْ چه په دارالإسلام کې د خپل کور په داخل کې وي نود دوي لپاره د مسلمانانو په ټولنه کې حقوق شته ، دوي چه څه کوي نود هغوي خوښه ده لیکن په شریعت کې چه څه منع دي هغه کارونه به دوي د مسلمانانو په ټولنه کې په ښکاره توګه نه کوي ، لکه د حراموشیانوکول اودخپل دین لپاره په ښکاره توګه فعالیتونه اودعوت کول ، اوهرچه ذمي دی د ده په هکله په مسئله کې تفصیل دی : کله چه دا په هغه ځمکه کې اوسیږي چه د مسلمانانو لخوا فتحه او ازاده شوي وي او په هغې کې کلیسي وي لکه د شام او مصراو عراق په ملکونو او ښارونوکې چه دي ، اویا د دي په شان نوري ، پدي خبره کې هم تفصیل دی ، لیکن په عامه توګه چه زمونږ د اسلامي ملکونو او ښارونو په شان حالت یي وي

نود هغه لپاره د خپلي عقيدي فعاليتونه په ښکاره توګه جايز ندي ، اوهمدارنګه د هغه لپاره په اسلامي نورو ملکونوکې په ښکاره توګه د ناقوس [١] او د صليب [٢] استعمال جايز ندي، او همدارنګ د هغه لپاره په ښکاره توګه د شرابو سکل او زنا کول جايز ندي ، ليکن کچيرته يې په پټه توګه په خپل کورکې دا کارونه او يا نورهغه څه چه د هغه خوښ وي وکړي نود هغه لپاره شريعت دا حق ثابت کړی دی ، ليکن دا به په ښکاره توګه نه کوي ، او د مسلمانانو په ملکونوکې د هغه لپاره هغه فعاليتونه جايز ندي چه د اسلامي شريعت خلاف وي ، کچيرته دا د دغو فعاليتونو څخه په پټه سره کوم کاروکړی نو مونږ به د هغو تفتيش او پلټنه نه کوو .

---

[١] [ د (ناقوس) لفظ مفرد دی ، ددي جمع (نواقيس ) راځي ، ناقوس د هغه جرس (ګنکړی ) اويادبل يوقسم اواز والا آلي څخه عبارت دی چه کله د مونځ وخت شي نونصرانيان وهي چه خلکوته پري د مونځ لپاره خبر ورکړي ] مترجم .

[٢] [د صليب لفظ مفرد دی ، د دي جمع صُلُب ، صُلْبَان ، راځي ، داد نصرانيانو(مسيحايانو) په نزد هغه لرګي ته وايي چه د هغوي په ګمان په دي باندي عيسی عليه السلام په دار(پهانسي) شوی وو] مترجم .

* همدا رنګه په تجارتي او مالي کاروبار کې به هغوي د عمر ﷺ د خلافت په زمانه کې د هغه نه د مديني منوري داخليدلو اجازت غوښته او هغه به دغي تاجرانو ته په مدينه منوره کې د دري شپو اجازت ورکوو، د دينه د زيات وخت اجازت به يې نه ورکوو پدي اساس چه نبي کريم ﷺ د يهوديانو او نصرانيانو په عربي جزيره کې د اوسيدلو څخه منع کړي دي.

* دا چه په مختصره توګه مخکې کوم مسائل پيش شو نو پدي کې دا واضحه شوه چه اسلامي شريعت دوي ته مالي حقوق، عدل او مساوات په ډيرو جوانبو کې ورکړي دي، چه دا ټول حقوق د نبي کريم ﷺ په زمانه او د خلفاوو راشدينو په زمانه کې په عملي توګه په ټولنه کې تطبيق او عملي شوي وو.

## ازادي د مقيدي ازادي څخه په غير موجــود نده :

* اوبل قـسم هغـه څـه چـه د انـسان د حقوقـو پـوري تعلق لري اود حريت ( ازاديانو) سره متصل اود دي قسمونو څخه دي ، لکه څرنګه چه مخکې تيرشو، ازادي د مقيدي ازادي څخه سيوا موجود نده ، شخصي حريت او ازادي د تفتيش اوپلټني په اعتبار سره مختلف قسمونه لري ، يوه د دي ازاديو څخه دانسان په خپل مال کې تصرف کول دي ، يوه د دغه ازاديوڅخه دانسان په خپل سفراوهستوګنه او په کوم هيواد اوښارکې چه وسيږي اختيار دی ، يوه د دينه سياسي ازادي ده چه دوي ترينه پدي سره تعبيرکـوي ، يـوه د دغـو ازاديوڅخـه دينـي ازادي ده چـه کـوم يـو ديـن دځـان لپاره اختياروي ، دي ازاديانو ته (د انسان حقوقـو) وثـائقو (لوظ نامو) لارښودنه کړي ده .

* پــه شــرعي اعتبارســره ازادي پــه مطلقــه توګــه موجود نه ده ، ځکه خلک په کامله توکه ازادول په هرکار او مجال کې چـه د خپلي خوښـي موافـق تـصرف کـوي دا د

ټولو خلکو د مصلحت منافي او په ضد ده ، او دا یوه ثرګنده خبره چه د خلکو او امت او ټولنو مصلحت په شخصي مصلحت مخکې دی دادټولوشریعتونواوأصولو (بستټونو)متفقه فیصلي ده ، نوله دي امله اسلام اواسلامي شریعت د انسان لپاره په ډیرو کارونوکې د لوي ازادي کفالت او ذمه واري کړی ، لیکن دا ازادي به په هغو مصلحتونوکې استعمالیږي چه اسلام د هغي د رعایت لپاره راغلی دی ، او تاسو ته دا واضحه ده چه شریعت د مصالحو د حصول اود دي د پوره کولو اود مفاسدو دفع کولو اوددي دکمولولپاره راغلی دی .

## اسلام د پنځه ضروري شیانو د ساتنې لپاره راغلی دی :

او همدارنګه شریعت د دې لپاره راغلی چه د پنځه ضروري شیانو ساتنه وکړي چه د هغو څخه علاوه د خلکو ژوندګي نه صحیح کیږي مګر په هغه وخت کې کله چه د هغو حفاظت او ساتنه وشي چه دادینه څخه عبارت دي :

* د دین ساتنه .

* د نفس ساتنه .

* د مال ساتنه .

* د عقل ساتنه .

* د نسب ، ابرو اوعزت ساتنه .

* اسلامي شریعت د دې پنځه ضروري شیانو د ساتنې لپاره راغلی ،کچیرته دا نه وی نو بیا به خلک په خپلو ډیروکارونوکې په شریعت کې ازاد وی .

## مالي ازادي:

* يو د حريت د وجوهاتو څخه چه اسلام يې د ټول انسانيت لپاره کفالت او ذمه واري کړي: هغه دا چه انسان په خپل مالي تصرفاتو کې ازاد دی، ليکن په دي شرط چه دا په خپله فايده او مصلحت پوهيږي، کچيرته دا په خپل مال کې د فساد اراده لري او بياد دي له امله ورته نقصان او ضرر رسيږي نو دابه په خپل مال کې د تصرف څخه بنديږي، لکه څرنګه چه په فقهه کې مشهور باب دی: (باب الحجر)[١] تردي چه لوي شخص په خپل مال کې غلط تصرف کوي او د دغه مال ساتنه د خپل ځان او بچو لپاره نه کوي او د بدتصرف له امله هغه د خپل طبيعت موافق چه څرنګه غواړي مال لګوي او بيا داغريب پاتي کيږي او په نورو خلکو باندي بوج کيږي، نو کله چه مصلح د ده د اولاد او خپلوانو په وړاندي د بدتصرف دلائل پيش کړي نو په ده باندي به د ده په مال کې تصرف بنديږي.

---

[١] [(بَابُ الْحَجَرِ): يعني (دا باب دی په بيان د دي کې چه انسان په خپل مال کې د تصرف څخه بند شي)، برابره خبره ده که دا د شريعت لخوا بند کړی شي او که د حاکم لخوا بند کړی شی] مترجم.

* همدارنګه کله چه وړوکی یتیم ته په میراث کې مال پاتي شي اود ده عمر اته یالس کاله وي او دا د خپل طبیعت او شهوت موافق کارې اخلي او یاد خپل شهوت له امله چه چیرته غواړي سفرکوي ، یاد خپل طبیعت موافق چه څرنګه یې خوښه وي په خپل مال کې تصرف کوي نو ده ته به دا اجازت نه ورکول کیږي ، په ده باندي شریعت ولي مقررکړی دی ، ولي به د ده په مال کې تصرف کوي څرنګه چه هغه ته مناسب ښکاري ، الله تعالی د دي خلکو په هکله فرمايلي : ﴿ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ ﴾ (١) (( که معلوم کړو تاسود دوي نه هوښیاري ، پس ورکوئ دوي ته مالونه د هغوي )) .

* د رشد معنی دا ده : چه په خپل مال کې په صحیح طریقي سره د تصرف معرفت کولی شي ، نوله دي امله په مال کې لویه ازادي دا ده چه د مباحو او جایز شیانو مالک او اختیارمند دی ،کله چه دا هوښیار وي او په خپل مال کې تصرف کوی لکه څرنګه لباس اغوندي ، تحفه او قرض

---

(١) [ سورة النساء /٦].

خلکوته ورکوي او چيرته چه په خپل مال سره سفرکوي ، اود خپل ځان او د چا چه ذمه وار دی د هغوي مسؤليت پيژني نو بيا په دي کې کوم حرج او ملامتيا نشته ، البته کله که د دي کارونو مخالف وکړي نو بيا د ده ازادي ناقصه کيږي ، دلته ولي د ده په هکله ازادي بنده شوه سره د دينه چه په خپل مال کې تصرف کول د ده حق دی ؟ ، جواب دا دی : کچيرته ده ته د ده دا حق ورکړی شي او دا د خپلي غوښتني موافق په خپل مال کې تصرف کوي نو دلته ده ته نقصان او ضرردی ،کله چه دا خپل ځان ته نقصان رسوي ، نو دلته په مسلمانانو باندي لازمي ده چه د ده د مصلحت رعايت وکړي دا ولي ؟، ځکه مسلمانان په اسلامي شريعت کې يو بل سره ورونړه دي نو په دوي باندي چه د کوم کمزوري (ناپوهه) ذمه واري ده د هغه لپاره ټول برابراويوشان دي او يو بل ته به نصيحت کوي [۱]، د يو چالپاره دا جايزندي چه

---

[۱] د عَمْرِو بن شُعَيْب څخه روايت دی هغه د خپل پلار څخه روايت کوي هغه د خپل نيکه څخه روايت کوی چه رسول الله ﷺ فرمايلي : (( الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ دِمَاؤُهُمْ ، يَسْعَى بِذِمَّتِهِمْ أَدْنَاهُمْ ، وَيُجِيرُعَلَيْهِمْ أَقْصَاهُمْ ، وَهُمْ يَدٌ عَلَى مَنْ سِوَاهُمْ ...)) ((د مسلمانانووينې په قصاص اوديت کې برابري دي ، د خپل

په خپل مال کې داسي تصرف وکړي چه په دنیا اوآخرت کې ورته ضررورسوي .

* نوله دي امله مالي ازادي چه یوڅوک په خپل مال کې تصرف نه کوي دا ډیره کمه ده ، ډیره ازادي په دي کې دا ده چه په خپل مال کې دخپل طبیعت اومزاج موافق تصرف وکړي کله چه په هغه حدودوکې وي چه شریعت ورته اجازت ورکوي .

## سیاسي ازادي :

* د ازادي بل مثال : چه هغې ته په سیاسي ازادي سره نوم ورکوي ، اودا د غربي ټولني اصطلاح ده او د هغوي د دي ممارست کړی دی چه په دي سره د دیموکراسي انتخاباتو اراده لري .

---

امن په ورکولواود دي په اداء کولوکې به کوشش کوي اګرکه دوي دکم شمیر والا ، یا( دکمي مرتبي والا) وي ، یو شخص د مسلمانانوڅخه دوي ته د پناه ورکولو حق لري اګرکه د هغه کورپه دوي کې لري وي ، اودکافرانو په مقابل کې به یودبل سره مدداومرسته کوي ...)) [سنن أبی داود - (ج ۸ / ص ۲۲۹].

* د ديموکراسي انتخابات کله د عدل اوانصاف په چاپيريال کې وي ، اوکله د چاد تاثير په وجه وي ، او بل دا چه خلک د انتخاباتولپاره څوک غوره کوي ؟ ، تاسو په موجوده زمانه کې مترقي او په وسايلو رسيدلي ملکونه ويني چه هغوي د تبلغاتي وسائلو(رسنيو) او نشرياتو په نتيجه کې انتخابات تر سره کوي نو مالدار سړی د دې ډيرو نشرياتو په اساس ډير مشهور وي او هغه د زياتو وسائلو په توسط کولی شي خلکو ته د ځان په هکله قناعت ورکړی او هغه په حقيقت کې د دغي انتخاب لپاره مستحق نه وي ، ليکن خلکو د ډيرو وسايلو له امله په هغه باندي ښه گومان کړی وی چه دا مناسب شخص دی ، ځکه دغه منصبونوته منتخب شوي کسان د عوامو خلکو سره دوکه او فريب کوي ځکه هغوي په دې نه پوهيږي چه څوک مناسب شخصيت د ځانونو لپاره منتخب کړي ، دخلکوپوهي شعوراواحساس د يو بل نه مختلف وي ، کيدلی شي چه ډيرکرتي خلک هوښيارنه وي پوهه او پوره عقلمند هم نه وي ، نو په نتيجه کې دوي د خلکو دنيوي مصلحتونه په عامه توگه او د امت مصلحتونه په خاصه توگه نه پيژني ، د امت په فايده په

عامه توګه مصالح ډیروخلکو سره ددي شعوراواحساس نه وي ، نو په دي اساس په انتخاباتوکې د مال په وجه ځني خلک د یهودیانو او صهیونیانو څخه متأثره شي نو د دوي د مال د کثرت له امله په انتخاباتوکې پري تأثیر راشي ، مقصد دا دی چه کومه سیاسي ازادي چه د انتخاباتو او پرلمان په نتیجه کې ده نو په دغو هیوادونوکې د همیش لپاره دغه د امت په مصلت نه تمامیږي .

* په اسلامي شریعت اود اسلام په تاریخ او د خلفاوو راشدینو په زمانه کې د خلافت د انتخاب لپاره أهل حل والعقد معلوم شوی وو، شریعت ټول خلک د مناسب او إمام (حاکم) په انتخاب کې برابر ندي ګرځولي ، ځکه د ټولو خلکو په انتخاباتو او رأي ورکولو سره په ټولنه کې د جاهل سړي اود ډیرپوهه او عقلمندسړي تمیز او فرق نه کیږي ، په انتخاباتوکې هغه څوک چه د شریعت په احکامو نه پوهیږي جاهل وي او هغه څوک چه هغه عالم او پوهه وي د مسلمانانو د إمام او حاکم په انتخاب کې برابریږي ځکه د هر یو لپاره رأي او نظردی او په جمهوري نظام کې د دي د ورکولو حق لري ،کچیرته مساوات په دي طریقه راځي نو دا

ډیر ناکاره مساوات دی ، شریعت د حاکم او مسلمانانو د إمام د انتخاب لپاره د دي اختیار أهل حل والعقد خاص خلک ګرځولي دي ، نو په دي اساس أبوبکر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه د خلافت لپاره منتخب کړ ،او عمر رضي الله عنه د وِلایت انتخاب لپاره مجلس شوری ته اختیار ورکړ، د دي موضوع په هکله دا مقام د تفصیل نه دی نوپدي وجه مونږ په دي اختصار سره اکتفاء وکړه .

* د غربیانودګومانونو موافق چه کومي سیاسي ازادیاني دي او بیا دوي د انتخاباتو په نتیجه کې پرلمان جوړکړي ، نو دوي پخپله دا ازادیاني د خپلي ټولني او معاشري په هرځاي کې نه دي عملي کړي ، تردي چه د دوي په ملکونوکې مصلحت هغه دی په کوم شي چه خلک رضا اوخوشحالیږي ، هرچه په دوي کې په عملي میدان کې مصلحت دی نو دوي واک او اختیارهغه چا ته ورکړي دی چه هم دوي یي اراده لري اګرکه نورمناسب اشخاص د واک لپاره وجود ولري .

* د سياسي ازاديانو په موضوع کې داهم شامله ده چه د هري يوي ډلي او قوم لپاره دي يو حزب او ګوند وي چه دا هريو حزب او ګوند به د خپلي ډلي د توجيهاتو اولارښودنو موافق په خپله ټولنه کې فعاليتونه کوي ، نوله دي امله په غربي اوشرقي نړي کې مختلفي ډلي اوګوندونه موجود دي چه يوه ډله اوګوند د بلي ډلي اوګوند مقابله او خلاف کوي ، يوه ډله د هغو په ټولنو کې د ديموکراسي په نوم ده ، بله ډله په هغوي کې د جمهوريت په نوم ده او بله ډله په هغوي کې د اشتراکيانو (کمونستانو) په نوم ده ، اوپه ځنو ملکونو د (ګارګرانو) په نوم باندي ډلي شته .......

* بيا دا مختلفي ډلي په انتخاباتو کې د يو بل سره په کلکه مقابله کوي نو کله چه يو حزب او ګوند کامياب شي نو بيا خپل افکار، اهداف او سياسي نظرونه او خپل موجوديت او قضايي فيصلي په ټولو ډولو باندي عملي کوي ، او دوي دي ازاديانو ته د سياسي ازادي نوم ورکړی دی نو په دي باندي بيا ټول خلک راضي نه وي بيا صرف د دغه کاميابي ډلي اوګوند خلک پري راضي وي او د دوي

مخالف کسان د دوي کاميابي خوښه نه ګڼي نو بيا د هغوي د فعاليتونو او نظرونو مذمت بيانوي .

* کله چه سياسي ازاديانو ته واک او اختيار ورکړی شي د هغو اصولو (بنسټونو) موافق چه دوي يي تأسيس کړي نو بيا په سياسي ګوندونو او ډلوکې مقابلي او سيالي شروع شي ، نو بيا کيدلی شي چه د دغه هيواد قيادت د يوي عقيدي او يوفکر په نظر جوړنه شي، اود دولت د بعضي تصرفاتو او مداخلي په اساس کيدلی شي د ټولو خلکو قيادت او مشري په رضامندي سره ونه شي ، نو بيا يوه ډله د سياسي ازادي او ديموکراسي په نتيجه کې کاميابه شي نو بيا د هغوي استقبال څوک نه کوي ، او ستاسو په وړاندي په دي جانب او ميدان کې ډيري لوي تجربيي اومثالونه دي ، کله چه بعضي اسلامي ډلي په جزائر او ترکيا کې کاميابي شوي نو دغو دولتونود هغوي په کاميابي رضامندي اوخوشحالي ښکاره نه کړه ، ځکه هلته عسکري نظامونه اوحکمونه موجود وو هغوي د ديموکراسي اود انسان د هغوحقوقوغوښتنه کوله چه د غربي اصولو سره موافق وو، ليکن کله چه په انتخاباتو کې

اسلام پاله ډلي کاميابي شوي نو بيا هغوي پدغو رضا او خوښ نه وو، تر دي چه ملګرو ملتونواو غربي هيوادنو چه د انسان د حقوقوکوم اعلان کړی وو نو بيا په دغه جانب کې د خپلو ډيرو اصولو څخه روسته شو، غربي دولتونو او ملګرو ملتونو، او په مختلف ډول کافرانواو منافقانوچه د سياسي ازادي د اصولواو بنسټونو کوم مخالفتونه کړي دي نوکه هغه مونږ ټول ذکرکوونو په موضوع کې ډير تفصيل راځي نوله دي امله په دي اختصار سره اکتفاء وشوه .

## اسلام د الله تعالی په بندګي او حاکمانو لـه نصيحت تيزي ورکوي :

* اسلامي شريعت په دي جانب کې د ټولو انسانانو د تجريبو څخه په ډيرلوي او مهم خيز سره راتګ کړی دی چه هغه خاص د الله تعالی بندګي اوحاکمانو تـه نصيحت کول دي ، ځکه حاکمانوته نصيحت په شرعي توګه فرض دی ، د أبورقيه تميم الداري ﷺ څخه روايت دی چه يقينا نبي کريم ﷺ فرمايلي : (( الدِّينُ النَّصِيحَةُ ، قُلْنَا لِمَنْ ؟ ، قَالَ : لِلَّه ، وَلِكِتَابِهِ ، وَلِرَسُولِهِ ، وَلأئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ ، وَعَامَّتِهِمْ )) (( دين د نصيحت

ځخه عبارت دی ، صحابو وویل : د چا لپاره؟، نبي کریم ﷺ وویل : د الله تعالی لپاره ، د هغه دکتاب لپاره ، او د هغه د پیغمبر لپاره ، اود مسلمانانو د امامانو لپاره ، اود عامو مسلمانانو لپاره )) [۱].

* د مسلمانانو حاکمانوته نصیحت واجب دی ، په دوي کې خیر نشته کله چه نصیحت ته غوږ نه ګدي ، او په مسلمانانوکې خیرنه شته کله چه دوي نصیحت نه کوي ، لیکن دا نصیحت به حاکمانو ته ځرنګه رسیږي ؟، د نصیحت رسولو لاري د رسول الله ﷺ په زمانه کې په غالبه توګه أهل حل والعقد او د مجلس شوری کسان وو، نو هغوي په دي جانب کې د پوهي د لاري دا پیژندل چه هغوي ته کوم نصیحت مناسب دی اوکوم مناسب نه دی ، د کومو ازادیانو چه هغوي اصول (بستهونه) ایښي دي او د هغو لپاره خپروني کوي نو په اسلام کې دا جایزنده چه د دین اود فکر ازادي دځان لپاره غوره کړي .

---

[۱] [ روایت یې إمام مسلم په /کتاب الإیمان ،/ باب بیان أن الدین النصیحة / نمبر: ۸۲،کې کړی دی].

## ديني حريت (ازادي):

* د ديـن حريت او ازادي: دوي وايـي انسان چه کـوم دين غـوارۍ د ده خپله خوښه ده ، خوالبتـه بـل چاتـه بـه د دي دين تعدي او تجاوزنه کوي ، هرچه د الله تعالی دين دی کوم چه يې په محمد ﷺ باندي نـازل کـړی دی هغـه اسـلام دی ، دا په حقه دين دی ، نو پـه دي اساس چا چه اسلام د خپـل ځان لپاره دين وګرځـوو نـو ديتـه مـسلمان وايـې ،کچيرتـه دا اراده ولري او داسي ووايي: چه زه ازاد يم د دي دين څخه بـل ديـن د ځان لپاره منتخب کوم نود ده دا خبره بـه نـه منل کيـږي ، د ده خبره به ولي نه منل کيږي ؟، ځکـه د ده مثـال د ليـونی شـو دا خپل مصلحت نه پيژني ، د ده مـصلحت پـه دنيـا او آخـرت کې په اسلامي دين کې دی ،کچيرته ده ته د بل دين د تقلـو او تقليدلو اجازت وشي نود دي معنی داده چه مونږده ته د اورد داخليـدلو اجـازه ورکـوو، نولـه دي املـه هغـه څـوک چـه د اسلامي دين څخه مرتد شي نوهغه به وژل کيـږي ، رسـول الله

ﷺ فرمايلي : (( مَنْ بَدَّلَ دِينَهُ فَاقْتُلُوهُ )) (( چا چه دين بدل کړو نو مړيي کړئ )) [۱].

* هر يو مسلمان چه د اسلامي دين څخه علاوه بل دين غوره کړو نو وژل يې واجب دی ، الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي : ﴿ مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ ﴾ [۲] (( څوک چه مرتد شود تاسونه د دين خپل نه (په دوستانه د کافرانوسره )، پس زر دی رابه ولي الله تعالی داسي قوم چه مينه به کوي الله تعالی د هغوي سره ، او دوي به مينه کوي د الله تعالی سره )) .

* چه مسلمان نه وي نو هغه چه هر دين دځان لپاره غوره کوي نو غوره دي کړی ، مونږ به په خلکو زور نه راوړو چه مسلمانان شي ، نبي کريم ﷺ يهوديانو او نصرانيانو ته د خپلو دينونو کولو موافقه کړي وه ، ليکن نبي کريم ﷺ هغوي ته دعوت اوبلنه ورکړي ده او دځنو کارونو څخه يې منع کړي وو او د ځنو کارونو په کولويې ورته حکم کړی وو.

---

(۱) [ روايت يې إمام بخاری – په (ج ۲۳ / ص : ۲۰) ، کې کړی دی ].

(۲) [ سورة المائدة / ۵۴ ].

* ديني ازادي ضمانت كوونكي ده ليكن پدي شرط چه د اسلامي دين څخه به بل دين ته تلل او انتقال نه كوي ، ځكه اسلام حق دين دى ، او اسلامي شريعت د خلكو د مصالحودساتني لپاره راغلى دي ، نوڅوک چه اسلامي دين بدلوي نوته پدي پوهه شه چه داعقلمند ندى .

## د تفكير او تعبير ازادي :

* د تفكيراو تعبيرازادي : دا په مطلقه توګه په اسلام كې منع ده ، د راي او نظرازادي دا ده چه هرانسان ازاد دى اود ده د حقوقوڅخه يوحق دادى چه دخپل نظراو فكر اظهار وكړي نود ده سره به پري محاسبه نه كيږي .

* اسلامي شريعت دا حق چاته ندى وركړى چه يو څوک د خپل فكر او ننظراظهارد خپلي خوښي موافق وكړي ، ځكه خلک په خپله پوهه كې د يو بل څخه مختلف دي ، او اسلامي شريعت د دي لپاره راغلى چه خلک د الله تعالى بندګي ته تياراو امده كړي كله چه خلكوته د شبهي موقع وركړى شوه كيدلى شي هغه څوک چه ايمان يې ضعيفه وي اوعالم نه وي او د شيطان د شبهي رد ونه وكړي

نو د دي کار له امله په عامه توګه فسادونه مینځ ته راځي ، لکه څرنګه چه دا کارد عمرؓ سره واقع شو : (( أَنَّ رَجُلاً مِنْ بَنِي تَمِيْم يُقَالُ لَهُ : صَبِيغٌ بنُ عِسْلٍ ، قَدِمَ الْمَدِينَةَ ، وَكَانَتْ عِنْدَهُ كُتُبٍ ، فَجَعَلَ يَسْأَلُ عَنْ مُتَشَابِهِ الْقُرْآنِ ، فَبَلَغَ ذَلِكَ عُمَرُ ؓ فَبَعَثَ إِلَيْهِ ، وَقَدْ أَعَدَّ لَهُ عَرَاجِينَ النَّخْلِ ، فلما دَخَلَ عَلَيْهِ جَلَسَ ، فَقَالَ لَهُ عُمَر ؓ : مَنْ أَنْتَ ؟ فَقَالَ : أَنَا عَبْدُ اللهِ صَبِيغٌ ، فَقَالَ عُمَر ؓ ، وَأَنَا عَبْدُ اللهِ عُمَرُ ، أَوْمَأَ إِلَيْهِ ، فَجَعَلَ يَضْرِبْهُ بِتِلْكَ الْعَرَاجِينِ ، فَمَا زَالَ يَضْرِبْهُ ح حَتَّى شَجَّهُ ، فَجَعَلَ الدَّمُ يَسِيْلُ عَلَى وَجْهِهِ ، فقال : حَسْبُكَ يا أمير المؤمنين ، فَقَدْ وَاللهِ ذَهَبَ الَّذِي كُنْتُ أَجِدُ فِي رَأْسِي )) (( د بني غنيم د قبیلي څخه يو سړی وو چه د هغه نوم صَبِيغُ بنُ عِسْل وو ، هغه مديني منوري ته راغی اود هغه سره کتابونه وو ، نوهغه د خلکو څخه په قرآن کريم کې د متشابهاتو پوښتنه کوله ، نو د ده خبرعمرؓ ته ورسيدو ، نو په هغه پسي يې يوکس وليږه اود هغه لپاره يې د کجورو لختي تیاري کړی وي ، نوکله چه د هغه خوا ته داخل شو نو کيناست ، نو عمرؓ ورته وويل : ته څوک يې ؟ ، نو هغه وويل : زه د الله تعالی بنده صَبِيغ يم

، نوعمر رضي الله عنه ورته وويل : زه د الله تعالی بنده عمر يم ، او هغه ته يې په خپل سر سره اشاره وکړه ، نو په هغه يې د دغو لختو په وهلو شروع وکړه ، هغه يې تردې پورې ووهه چه زخمي يې کړو او په مخ يې ويني رواني شوې ، نو صبيغ وويل : د مسلمانانو اميره ستا وهل زما لپاره کافي دي ، قسم په الله تعالی هغه څه چه زما په سر کې ووهغه ختم شو)) [1] .

*صبيغ په خلکو ګرځيده اود هغوي څخه يې په قرآن کې د متشابهاتو پوښتني کولي، نو هغه به ويل د : ﴿ وَالذَّارِيَاتِ ذَرْوًا * فَالْحَامِلَاتِ وِقْرًا ﴾ [2] څخه مراد څه شی دي ؟، عمر رضي الله عنه راغی او په هغه يې خپله دِرّه (امسا) ، اوچته کړه ،(دِرّةٌ) : د دال په زير سره ده په پيش سره نده ، نو بيا يې د هغه څخه پوښتنه وکړه ته د فلاني فلاني متشابهاتو په

---

[1] [روايت يې إمام دارمي په خپل /کتاب (سنن الدارمی – په (ج ۱ / ص ۱۲۲) ، او إمام أبو بكر محمد بن الحسين الآجري په خپل کتاب / الشريعة – په (ج ۱ / ص : ۷۱) ، او إمام أبو القاسم هبة الله بن الحسن بن منصور اللالكائي په خپل کتاب / اعتقاد أهل السنة –په (ج ۴ / ص : ۲۳۶) ،او إمام ابن بطة العكبري په خپل /کتاب الإبانة الكبرى - په (ج ۲ / ص ۳۰۹)، کې کړی دی ] .

[2] [سورة الذاريات/۱ ، ۲] .

هکله پوښتنه کوي ؟، او په خلکو کې د شبهاتو انتشار کوي ، نوهغه وويل : هو ، زما په سرکې يوڅه شته ، (يعني ته مه ولي منع کوي ؟، نو بيا عمرﷺ په خپله امسا سره ووهه ، نو بياهغه وويل : د مسلمانانو اميره : ما چه په خپل سرکې د کوم شي احساس کوو هغه ختم شو، يعني ما سره چه کومه شبهه وه د هغي نه الله تعالی ماته عافيت او صحت مندي راکړه، بيا هغه عمرﷺ د مديني څخه وشړه او هغه ته يې دا وصيت وکړو چه دخلکو سره به نه يوځاي کيږي چه ستا شبهې په هغوي باندي تأثير ونکړي ، پيغمبران عليهم الصلاة والسلام ، الله تعالی ولي راليږلي دي ؟، جواب / د دي لپاره يې راليږلي دي چه خلک يواځي د يو الله تعالی بندګي ته تيارکړي .

* کله چه يو کس ځان راښکاره کړي اودکوم شي د د خپرولو چه اراده لري هغه وکړي اودخلکودين کې فساد راولي ، نودا د ده کړنه د پيغمبرانود اصلي راليږلود مقصد څخه مخالفه ده ، نبي کريم ﷺ په اسلامي دين سره راتګ کړی دی چه خلک د الله بندګي ته تيارکړي ، د دي لپاره

چه په ورځ د قیامت کې د اسلامي حقائقود الله تعالی په نزد باندي ثبوت وشي .

* کله چه یوشخص راپیدا شي او دا اصل (بنیاد) ختموي او ابادي د لاندي طرف نه کني تردي چه دغه راوغورځیږي نود ده د دغه کارڅخه بندل واجب دي ، زمونږ په اسلامي دین کې په تعبیراورأي کې په کامله توګه سره ازادي نشته ، په ډیرو شیانوکې انسان د خپل نظر او رأي تعبیرکولی شي ترڅوپوري چه پدي سره د قرآن کریم او سنت اود اسلامي اصولو(بنستهونه) نه عیبجن کیږي .

* کچیرته یوشخص د خپل طبیعت موافق په بعضو فکرونو سره راتګ وکړي اوپدي سره اسلامي دین عیبجن کوي او یا پدي سره د اسلام هیبت او رعب ختموي ، او یا خلک د الله تعالی د عبادت څخه لري کوي نودا کارونه د پیغمبرانوعلیهم الصلاة والسلام د اصلي مقصد راليږلو څخه مخالف دي ، هغه دا چه خلک یوائي د یو الله تعالی عبادت ته تیارشي .

* مخکې چه مونږ څه ذکر کړو دا د دي خبر ورکوي چه زمونږد ټولوپوهه اواستعداد يو شان برابرندی ، په دنيا کې ډيرخلک عاطفي جانب غوره کوي ، د دليل او د حجت په جانب اهتمام نه کوي ، دا قسم خلک د هغو مختارو کسانو څخه ندي چه کارونه په دليل اوحجت وکړي اود مصالحو او مفاسدوا په هکله د دلائلو رعايت وکړي ، ډير خلک چه ځني شيان حلالوي دوي په عاطفي جانب ترکيز (ټينګار) کوي ، دوي د هغو خبرو استقبال کوي چه ډير تأثير پکې وي ، اوکله قاضي د د دوه جګړامارو په مينځ کې هم د هغه شخص په هکله فيصله کوي چه هغه په خبرو کې ډيرفصيح اوچلاک وي او په ظاهري توګه خبري يې په دليل او حجت بنا وي : نبي کريم ﷺ فرمايلي : (( إِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ ، وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَلْحَنُ بِحُجَّتِه مِنْ بَعْضٍ ، فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِحَقِّ أَخِيه شَيْئًا بِقَوْلِه ، فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ فَلاَ يَأْخُذْهَا )) (( يقينا تاسو خپلي جګړي (اواختلافونه) ماته راپيش کوي ،کيدلی شي چه د تاسو څخه بعضي دبعضي نوروڅخه په خبرو کې ډيرفصيحه اوپوهه وي ، ما چه د چاپه هکله د هغه د وينا موافق د هغه د مسلمان و رور د حق څخه د يو شی

فیصله وکړه ، نو زه د هغه لپاره د اور یوه ټوټه پرې کوم هغه دي نه اخلئ )) (۱) .

* نوله دي امله د رأي او نظر د ازادي دروازي پرانستل اوخلاصول دا د خلکو په دین باندي تأثیر راولي ، دا د خلکو نه دین ختموي او اسلام یي ضعیفه کوي ، او دا د بعثت اثار او خلکوته د الله تعالی په دین باندي قناعت ختموي .

* په کومو هیوادونوکې چه په مختلفه توګه د رأي او نظر د ازادي مجال خلکو ته حاصل شوی دی ، نو ډیر خلک د دي فکرونو ښکار شوي دي او دایي د اسلامي دین د پریښودلو بنیادي سبب کرځیدلی دی ، د الله تعالی څخه د سلامتیا اوعافیت سوال کوو.

* ډیرخلک چه عاطفي نظر لري ضعیفه خبره اخلي او صفا او قوي خبري پریږدي،اودځنونورونظرونو وجوهات نه پیژني ، نو په علماوو باندي واجب ده چه د هري فاسدي مقالي ویونکې فساد خلکو ته واضحه کړي پدي اساس چه

---

(۱) [روایت یې إمام بخاری –په (ج ۹ / ص ۴۹۱) ،کې کړی دی].

د محمـد ﷺ د ديـن ساتنه وشـي چـه خلـک يـي رد نـه کـړي ، لـيکن دا موقـع پـه هـر وخت کـې نـه وي ، کچيرتـه پـه مطلقـه توګـه خلکـو تـه د رأي او نظـر ازادي ورکـړی شـي نـودا بـه د خلکودعقائـدو اوأديـانو د فـساد سـبب وګرځـي ، ځکـه ټـول خلک د شبهي په رد کولو کې برابرندي .

* نـو مـونږ بـه دا ووايـو : اسـلامي ديـن او شـريعت د انسان د حقوقود ساتني لپاره راغلی دی ، برابره خبره ده کـه دا انسان پلار وي اوکه ځوي وي ، خاوند وي او که ښـځه وي ، إمام وي اوکه رعيت وي ، قاضـي وي اوکـه هغـه څوک وي چه فيصله پـري شوي ده ، والـي وي او کـه مالـک وي ، أميـر وي اوکه مأمور وي ، ازاد وي وي او که مريئ وي ، سړی وي اوکه ښځه وي .

* اسـلامي شـريعت د انـسانانود حقوقـو پـه هکلـه راغلی دی لکه څرنګه چه دا تاسو ته د علماوو په بيانونو کـې څرګنـده شـوه ، اسـلامي شـريعت د هرقـسم انـسان لپـاره د حقوقو سـاتنه او ضـمانت کـړی دی، لکـه د موراوپلارحق ، د بچيـانو حقونـه ، د خاونداوښـځي حقوقونـه ، دمـسلمان پـه

مسلمان باندي حق ، د كافر حق ، د كافر لپاره هم حق شته كله چه د چا گاونډي وي ، د معاهَد لپاره د هغه د وعدي موافق د امن وركولو حق دى ، د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه د حديث په اساس : (( أَنَّهُ ذَبَحَ شَاةً ، فَقَالَ أَهْدَيْتُمْ لِجَارِى الْيَهُودِىِّ ؟ ، فَإِنِّى سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ ، يَقُولُ : (( مَازَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِى بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ )) (( يقينا هغه يوه بزه (اوزه) حلاله كړه ، نو هغه وويل : ايا زما يهودي گاونډي ته موترينه څه هديه وركړى ؟، يقينا ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلى چه هغه ويل : (( جبريل عليه السلام ماته د گاونډي سره په احسان كولو د هميش لپاره وصيت كوو، تردي چه ما دا گمان وكړو چه هغه يې په ميراث كې يې شريكوي )) [١].

دا د شرعي مصلحت د رعايت له امله .

* نو اسلامي شريعت د ټولو حقوقو رعايت كړى دى لكه : مالي حقوق ، او د همسايتوب حقوق ، او د ازادي حقوق ، ليكن پدي كې دا شرط دى چه د هغي مصلحت

[١] [روايت يې سنن أبى داود –په (ج ١٥ / ص : ٣٢)، كې كړى دى].

خدمت په کې وکړي شي چه شریعت د هغې د ثابتولولپاره راغلی دی .

* اسلامي شریعت یوائې د دنیا د مصلحتونو د ثابتولو لپاره ندی راغلی ، بلکې دا د دنیا او آخرت د دواړو مصلحتونولپاره راغلی دی ، پدې کې د دنیا او آخرت او قیامت دواړو اصلاح او سلامتیا ده .

* دایوه څرګنده خبره ده چه د انسان د حقوقو په پوره توګه تطبیق د رسول الله ﷺ اود خلفاوو راشدینو په زمانه کې شوی وو، اوهمدارنګه په أموي اوعباسي اسلامي دولتونو کې هم د دې حقوقوتطبیق شوی وو ، تردې پورې چه په موجوده زماني کې هم د دې رعایت شته ، څومره چه به اسلامي شریعت ډیرتطبیق اوعملي کیدونو په همغه اندازه به د انسان حقوق محفوظ وو، په دې جانب کې تاسو ته د پراخه سمندرڅخه په مختصره توګه د انسان د حقوقو په هکله یوه حصه تقدیم شوه .

* د الله تعالی څخه سوال کوم چه مونږ د خپل دین لپاره صبرکوونکي او په صبرباندې ویناکوونکي داعیان ، او

د شريعت مددګاران ، عالمان اودعلم طلب کوونکي ، اود رسول الله ﷺ د سنتوڅخه دفاع کوونکي وګرځوئ ، يقينا هغه جواد اوکريم (د ډيرخيراو ډيري ورکړي والادی) دی .

* د الله تعالی څخه سوال کوم چه زما اوستاسو ګناهونه او په خپلوکارونوکې زمونږ زياتی معاف کړئ ، يا الله تعالی ته زمونږ مددګار شئ او زمونږ په ضد مه کيږه ، أي الله تعالی ته زمونږ په کارکې کاميابي اسانه کړئ ، ای الله تعالی مونږ ته ايمان محبوب کړئ او زمونږ په زړونو کې يې خائسته کړئ ، ای الله تعالی مونږته کفر، فسق او نافرماني بده ښکاره کړئ ، اومونږ د کاميابانو څخه وګرځوئ ، ای الله تعالی مونږ د حق د تابعدارانو څخه وګرځوئ ، او په هغي باندي مونږ قائم پاتي کړئ ، او مونږ ستاددين څخه دفاع کوونکي جوړکړئ ،ای الله تعالی مونږ ته دهغه څه توفيق راکړئ چه ستارضاپه کې وي ، ای په ټولو کريمانوکې کريمه ! مونږد هغه څه نه وساتئ چه تا ناراض اوغوصه کوئ او ته يې بدګڼئ ، ای الله تعالی ته د مسلمانانوعلماووته د فريب کونکود فريب رد کولو او د دين د مدد کولو طاقت ورکړئ ، ای الله تعالی ته دوي ته د

دوي په ویناګانو اوکارونوکې دکامیابي الهام په نصیب کړئ ، اوغوره بدله ورته ورکړئ ، ای الله تعالی ته زمونږ حاکمانو ته د هغه څه توفیق ورکړئ چه ته یې خوښ ګڼې او ته پرې راضي کیږې ، مونږ او دوي په نیکي او پرهیزګاري کې د یوبل سره مددګاران وګرځوئ ، او ته د دوي لپاره پټ رازداران د نیکانوخلکوڅخه اسان کړئ چه د دوي د خیر طرف ته ښودنه کوي اوپدې ورته تیزي ورکوي ، اود دوي اود پټ ناکاره رازدارانوپه مینځ کې ډیره مسافه راولی کوم چه دوي ته د شرکولوحکم کوي اوپه دې ورته تیزي ورکوي ، یقینا ته په ټولو کریمانوکې کریم یې .

وصلى الله وسلم وبارك على النبي الأمي الأمين وعلى آله وصحبه أجمعين .

* په پای کې د الله تعالی څخه سوال کوم چه دا لږ عمل قبول کړئ ، او ما او زما د والدینو لپاره یې د کامیابي سبب وګرځوی (آمین).

د ترجمي د شروع تاریخ : ۱۴۳۷/۱/۱هـ

د ترجمي د پاي تاریخ : ۱۴۳۷/۱/۲۰هـ

مترجم/أبوضیاء زاهدالله توحیدي مدني

الداعیة بمکتب التعاوني للدعوة

والإرشاد وتوعیة الجالیات بالجبیل

ص–ب : ۱۵۸۰، الجبیل : ۳۱۹ ۵۱

سعودي عربستان

00966/3/3625500 EXT-1020

موبائل : 0508045497

# د موضوع ګانو فهرست


| شماره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١ | د مترجم سریزه ................................ | ٢ |
| ٢ | د مؤلف سریزه ................................ | ٩ |
| ٣ | د اسلامي دین اهمیت ........................ | ١٠ |
| ۴ | د دوه مهمو حقوقو پیژندل..................... | ١٢ |
| ۵ | د انسان حقوق اودیته د تاریخ په رڼا کې لنډه کتنه ................................ | ١۵ |
| ٦ | د ملګرو ملتونودحقوقو دوه جهته.......... | ١٨ |
| ٧ | دغربیانوپه نزد دحریت (ازادي) قسمونه ... | ١٩ |
| ٨ | د مسلمان لپاره اسلامي دین فخردی ...... | ٢١ |
| ٩ | د انسان دحقوقوپه هکله دځنوعلماوو لیکنې ........................................ | ٢۴ |
| ١٠ | په اسلام کې د بني آدم منزله اومرتبه........ | ٢٦ |
| ١١ | د ازادي قسمونه ................................ | ٢٨ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | اول قسم : حريت (ازادي) ........................ | ۲۸ |
| ۱۳ | دوهم قسم : مساوات (برابروالی)............ | ۳۱ |
| ۱۴ | د رسول الله ﷺ د بعثت څخه مخکې عربي تولني ته لنډه کتنه........ | ۳۴ |
| ۱۵ | د خلکو په مساوات (برابروالي) کې اسلام سبقت کړی دی.......... | ۴۰ |
| ۱۶ | داسلامي فتوحاتو څخه روسته ډير اعجمو ته مشري ورکړی شوه ........... | ۴۱ |
| ۱۷ | اسلامي دين د خلکو د مشکلاتو د حل لاره ده. | ۴۲ |
| ۱۸ | اسلامي شريعت د خلکو مساوات په حقوقو کې ثابت کړی دی ............ | ۴۴ |
| ۱۹ | د يهوديانو د هلاکت سبب ........ | ۴۸ |
| ۲۰ | د مسلمانانو ويني ، مالونه ، ابرو اوعزت تول برابر اويوشان دي ............ | ۴۹ |
| ۲۱ | په مخ د ځمکه کې د خلکو قسمونه.......... | ۵۵ |
| ۲۲ | الله تعالی په قرآن کريم کې اورسول الله ﷺ په أحاديثوکې د کافرانو د حقوقو حکم | ۵۷ |

| | | |
|---|---|---|
| | کړی دی ........................................ | |
| ۲۳ | د جنګــي کــافرانو ماشــومان ، زنانــه او بوډاګان به نه وژل کیږي ........................ | ۶۰ |
| ۲۴ | ازادي د مقیدي ازادي څخه په غیرموجود نده ................................................ | ۶۵ |
| ۲۵ | اسلام د پنځه ضروري شیانود ساتني لپاره راغلی دی ........................................ | ۶۷ |
| ۲۶ | مالي ازادي ........................................ | ۶۸ |
| ۲۷ | سیاسي ازادي........................................ | ۷۱ |
| ۲۸ | اسلام د الله تعالی په بندګي اوحاکمانو لـه نصیحت تیزي ورکوي........................ | ۷۷ |
| ۲۹ | دیني حریت (ازادي) ........................................ | ۷۹ |
| ۳۰ | د تفکیر او تعبیر ازادي ........................ | ۸۱ |
| ۳۱ | د موضوع ګانو فهرست ........................ | ۹۴ |